مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۲/۱۰/۱۸

# احادیث

## لومړی برخه

حدیث په لغت کي خبر، خبرو او نوي شي ته وایی. خو په اصطلاح کي ټولي هغه خبري او افعال دي چي حضرت رسول ص ته منسوب دي. په احادیثو کي هغه خبري چي پخپله د حضرت رسول ص څخه راپاته دي احادیث نبوي او هغه خبري چي حق متعال حضرت رسول ص ته کړي او په قرآن شریف کي یي ذکر نه دی سوی حدیث قُدسي بلل کیږي. مثلاً دا مشهور قدسي حدیث: لولاک لولاک لما خلقت الافلاک .... که ته نه وای مابه اسمانونه نه وای پیدا کړي. احادیث یا د حضرت رسول ص قولونه او خبري دي چي سنة الفعل نومیږي یا د هغه مبارک افعال دي چي هغه سنة الفعل نومیږي او یا هغه کارونه دي چي د حضرت رسول ص په حضور کي سوي او هغه مبارک ممانعت نه دی کړی چي دې ډول افعالو ته سنة التقریر ویل کیږي.
څرنگه چي د حضرت رسول ص د کلام او هدایاتو پیروي، پر مسلمانانو باندي، فرض ده او په دې باره کي په قرآن شریف کي صراحت سوی دی: و ما آتکم الرسولُ فَخُذوُهُ و ما نهاکُم عنهُ فانتهوا و تقوالله انَّ الله شدیدالعقاب. آیة ۵۹ سورة ۷

ترجمه: څه چي پیغمبر یي درکوي (هدایت درکوي) هغه واخلئ او له هغه څخه چي مو منع کوي له هغه څخه پرهیز وکړی. له الله څخه وبیریږی چي هغه په عذاب ورکولو کي سختي کوي.
په دې اساس نو که د احادیثو په باره کي، چي هم د اهل سنت و جماعت یا سنیانو او هم اهل تشیع یا شیعه گانو د فقهي مسایلو اساسي برخه تشکیلوي ، هر خونه زیاته څېړنه وسي گټوره به وي.
تر هر څه مخکي باید یوه ټکي ته اشاره وکړو او هغه دا چي چي حضرت رسول ص یوازي د قرآن شریف د آیتونو او، په وروسته کي، د فرمانونو د لیکلو لپاره کاتبان درلودل او د خپلو خبرو او هدایاتو د لیکلو وظیفه یي چاته نه وه ورکړې. حضرت رسول ص دا کار قصداً څکه کړی وو چي ویل هسي نه چي د ده خپلي خبري د قرآن شریف له آیتونو سره مخلوطي او یو دبل پر ځای ذکر نه سي. نو دغه علت دی چي احادیث تر څه باندي دوو سوو کلونو پوري سینه پر سینه نقل کېدل. ټول احادیث په ابوهُریره وایي، طاووس وایي، اُمُّ المومنین عایشه وایي، په کلماتو پیل کیږي؛ او وریسي د هغوی له قوله د ناقلینو نومونه راځي. څه باندي دوه سوه کاله، د یوه خبر، د سینه پر سینه نقلېدلو، لپاره ډېره اوږده موده ده او په دې دونه زیات وخت کي، طبیعي ده چي، د خبر په اصلیت او ماهیت کي بدلون راځي. د احادیثو شمېر دونه زیات سو او په اقوالو کي دونه زیات تغییرات ولیدل سول چي دیني علماء، په لیکلي شکل، د احادیثو جمع کولو ته مجبور سول. دا حادیثو دا مجموعي هم دونه زیاتي سوي چي بالاخره سُني علماوو د احادیثو په کتابونو کي شپږ کتابه معتبر یا صحاح سته یا شپږ صحیح وبلل او په هغو شپږو صحیحو کي یي دوه کتابه، بخاري او مسلم، چي په شپږو صحیحو کي د زیات اعتماد او اعتبار وړ وه، صحیحین وبلل. په مقابل کي شیعه علماوو هم، چي له سنیانو سره یي په هر څه کي اختلاف درلود، خپل احادیث را ټول کړل چي مهم یي الکافي، التهذیب، نهج البلاغة او.... دي.

صحاح سِتّه:
۱: صحیح بخاری. محمد بن اسماعیل البخاري ( ۱۹۴-۲۵۶ ہ ق)
۲: صحیح مسلم. مسلم بن الحجاج ( ۲۰۶- ۲۶۱ ہ ق )
۳: سنن ابوداوود. ابوداوود السجستاني( ۲۰۲-۲۷۵ ہ ق )
۴: ابوعبدالله محمد بن باجه. وفات ۲۷۳ ہ ق
۵: ابوعیسی محمد الترمزي. وفات ۲۷۹ ہ ق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

۶: ابو عبدالرحمن النسایی. وفات ۳۰۳ ه ق
لومړنی سړی چي د احادیثو د را ټولولو ضرورت ته متوجه سو؛ امام بخاري وو چي د احادیثو له څلوېښتو زرو راویانو یا روایت کوونکو څخه یې دوه زره انتخاب کړل او د شپږ سوه زره احادیثو څخه یې ۷۰۵۲ را وایستل او نور یې ټول ایسته واچول. امام مسلم له تقریباً همدغه شمېر احادیثو څخه ۷۱۹۰ انتخاب کړل او ابوداوود، چي تر دوی هم محتاط وو هغه، ۵۲۷۴ احادیث انتخاب کړل.

موږ ګورو چي د احادیثو لومړنی کتاب یا لومړنی مجموعه د حضرت رسول ص له وفات ۱۱ ه ق څخه څه کم دوه نیمي سدۍ فاصله لري. که هر نسل ۳۵ کاله وبولو نو دا تقریباً اووه نسلونه کیږي. په داسي حال کي چي دریم نسل ته یوه خبره په صحیح شکل رسول ډېره ګرانه او حتی غیرممکنه ده نو د اوو نسلونو سینه پر سینه نقلېدلو په باره کي خو سړی له سره تصور نه سي کولای. ګواکي امام بخاري، امام مسلم او نورو محدثینو حق درلود چي په روایت سویو احادیثو کي د انتخاب په برخه کي له سختی او احتیاط څخه کار واخلي.

سره له هغه چي امام بخاری د احادیثو په جمع کولو او انتخابولو شپږ او یا په یوه روایت لس کاله زحمت ایستلی دی او نورو محدثینو هم تر هغه کم زیار نه دی ګاللی خو کله چي سړی له شپږ سوه زره احادیثو څخه د تقریباً پنځه سوه دری نیوی زره ۵۹۳۰۰۰ احادیثو ردېدلو او لیری غورځول کېدلو ته ګوري نو د باقی پاته احادیثو د صحت او سقم په باره کي هم شک ورته پیدا کیږي او په غور کولو ارزي.

محدثینو د احادیثو د ردولو او تاءییدولو لپاره ځیني معیارونه وټاکل؛ ځکه د دې خبري کول ګران کار دی چي د خلکو له خوا پر یوه منل سوي حدیث باندي څوک د بطلان خط کش کړي او هغه یا ونه مني او یا یې کمزوری وبولي. محدثینو د خپل قضاوت لپاره، په لومړي سر کي، درې معیارونه وټاکل:

۱ ــ حدیث الصحیح: هغه احادیث دي چي د بشپړ اعتماد وړ او په صداقت مشهورو اشخاصو له لوري نقل سوي او سینه پر سینه تر هغه وخته رسېدلي وي.
۲ ــ حدیث الحسن: هغه احادیث دي چي راوي یا راویان یې د اعتماد وړ کسان وي خو د حدیث الصحیح په څېر د اعتماد وړ نه وي.
۳ ــ حدیث الضعیف: هغه احادیث دي چي راوي یا راویان یې د اعتماد وړ نه وي او یا مشکوک وي.
د پورتینو معیارونو له ټاکلو سره ډېر زیات او په سوونو زره احادیث، لکه څرنګه چي مو مخکی ذکر وکړ، له اعتباره ولوېدل؛ خو د دې کار یوه کمزوري په دې کي ده چي محدثینو دا ټول درې واړه احادیث په خپلو کتابونو کي جمع کړي او چنداني یې دې ته اشاره نه ده کړې چي کوم احادیث د زیات باور او کوم احادیث د زیات اعتماد وړ نه دي. محدثینو، دغه راز، د احادیثو د سرچیني له مخي یو بل معیار هم وضع کړ:

۱ ــ حدیث المرفوع: دا هغه احادیث دي چي ویل او فعل یې پخپله حضرت رسول اکرم ص ته راجع کیږي او له هغه څخه مستقیماً را نقل سوي وي.

۲ ــ حدیث الموقوف: دا هغه احادیث دي چي قول او فعل یې اصحابو ، حضرت رسول اکرم ص ته منسوب کړي وي.
۳ ــ حدیث المرفوع: دا هغه احادیث دي چي قول او فعل یې تابعینو حضرت رسول اکرم ص ته راجع کړی او روایت یې کړی وي.
محدثینو پر دې برسېره یو بل معیار هم وضع کړی دی چي هغه د احادیثو د سلسلي په ارتباط دی. کوم احادیث چي په نقلېدلو کي یې تر اصل پوري هیڅ انقطاع نه وي راغلي هغه ته حدیث المتصل ویل کیږي او که یې په منځ کي په کوم ځای کي فاصله راغلي وي هغه ته حدیث المنقطع ویل کیږي. د دې لپاره هم دوی څو اصول وضع کړي دي.

۱ ــ حدیث المتواتر: دا هغه احادیث دي چي یو حدیث په عین ماهیت او مضمون پر څو سلسلو نقل سوی او تر اصل پوري هیڅ انقطاع نه وي پکښي راغلي. دا هغه احادیث دي چي په صحت کي یې هیڅ شک نسته او د بشپړ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اعتماد وړ دي. د اسلام د دين مشهور او رسيدلي عالمان په دې عقيده دي چي د دغه ډول احاديثو شمېر له پنځو څخه نه زياتيږي خو د قاطع شمېر په باب يې اختلاف موجود دی.
۲ ـــ حديث المشهور: دا هغه احاديث دي چي لږترلږه پر دريو سلسلو نقل سوي وي او هر وخت د مستندو او موثقو احاديثو په سترګه ورته کتل کيږي او مذهبي علماء يې هم په موءثقيت کي اختلاف نه لري. دغه راز احاديثو ته مستفيض يا په مهارت او استادی ترتيب سوي احاديث هم ويل کيږي.
۳ ـ حديث العزيز: دا هغه احاديث دي چي د انتقال سلسله يې تر دوو زياته نه وي؛ ځکه يې نو د حديث المشهور په نسبت اعتبار کم دی.

۴ ـ حديث الغريب: دا هغه احاديث دي چي روايت يې يوازي يوه سلسله لري.
دغه راز خبرالواحد، حديث المرسل او حديث الرواية دي چي د هر يوه پر معتبر والي باندي اختلاف موجود دی او ځيني خو حديث المعذور دي چي په جعل کېدلو کي يې هيڅ شک نسته.
د مختصر صحيح بخاري په مقدمه کي راغلي دي چي حضرت رسول ص خپلو اصحابو ته وويل چي د هغه خبري ونه ليکي او هر چا چي له قرآن څخه پرته څه ليکلي وي هغه دي له منځه يوسي. د حضرت رسول ص مطلب دا وو چي هسي نه يو وخت د ده خبري د قرآن شريف له آيتونو سره اشتباه نه سي. خو وروسته آنحضرت ص عبدالله ين عمرو بن عاص ته د هغه د ويناوو د ليکلو اجازه ورکړه. په مقدمه کي راغلي دي چي وروسته نورو اصحابو هم د احاديثو په ليکلو بناء وکړه. مثلاً علي بن ابی طالب، سعد بن عباده انصاري، ابوموسی اشعری، جابر ين عبدالله انصاري، عبدالله بن عمرو بن عاص او سمره بن جندب، هر يوه له خپل ځان سره احاديث ليکل.
په مقدمه کي راغلي دي چي عمر بن عبدالعزيز( ۷۱۷ـ ۷۲۰ ه ق) د مديني حاکم ابوبکر بن حزم ته وليکل چي احاديث را ټول کړي. هغه دغه راز د اسلام د قلمرو نورو علماوو ته هم وليکل چي د نبوي احاديثو په جمع کولو لګيا سي. په مقدمه کي راغلي دي چي احاديث را ټول سول او عمر بن عبدالعزيز ته واستول سول او هغه د اسلام له د قلمرو مختلفو برخو ته واستول... وروسته ډيرو علماوو په بېلو بېلو ښارونو کي د احاديثو په راټولولو پيل وکړ. مثلاً عبدالملک بن عبدالعزيز، جريح او سفيان بن عينيه په مکه کي، محمد بن اسحق، محمدبن عبدالرحمن او امام مالک بن انس په مدينه کي، سعيد بن عروبه، شعبه بن حجاج په بصره کي، معمر بن راشد په يمن کي، اوزاعی په شام کي، عبدالله بن مبارک په خراسان او نورو کسانو په نورو ښارونو کي د احاديثو په ټولولو پيل وکړ.
د مختصر صحيح بخاري مقدمه ص ۷ـ۸
له دې مقدمې څخه داسي ښکاري چي د احاديثو کتابونه بايد د ليکلو مجموعو پر اساس تر تيب سوي وي او که داسي وای نو بيا د ۶۰۰ زرو احاديثو له جملې څخه د ۵۹۵ يا ۵۹۴ زرو احاديثو حذفولو او غورځولو او يوازي د څه باندي ۵۰۰۰ څخه تر ۷۰۰۰ احاديثو انتخابولو او د انتخاب لپاره د معيار ټاکلو ته ضرورت نه پيدا کېدی. هغه احاديث چي امام بخاری، مسلم او نورو را غونډ کړي دي بايد پر ليکلو متونو بناء وای او پر نقل قولونو باندي ولاړ نه وای. خو موږ د احاديثو په ټولو کتابونو کي ليکلو متونو ته اشاره نه لرو بلکه معمولاً د نقل قول پر اساس راغلي دي.
موږ ته عبدالله بن يوسف الليث، او هغه د يزيد بن ابی حبيب او هغه د بُکير بن عبدالله او هغه د سليمان بن يسار او هغه د عبدالرحمن بن جابر بن عبدالله او هغه د ابی بُرده رضی الله عنه له قوله وايي چي نبی ص ويلي دي چي هيڅ څوک د خدای تعالی له ټاکلو سويو حدودو څخه تر لس دُرې زيات مه وهی. بخاري حديث ۱۷۴۴
ـــ موږ ته يحيی بن سليمان ويلي دي او هغه د ابن وهب له قوله وايی او هغه ته عمرو د ابن بُکير له قوله ويلي دي چي زه د سليمان بن يسار سره ناست وم چي عبدالرحمن بن جابر راغی او له سليمان بن يسار سره يې خبري وکړې او وروسته سليمان بن يسار زموږ خواته متوجه سو او راته ويې ويل چي ماته عبدالرحمن بن جابر د خپل پلار له قوله وويل چي هغه د ابوبُرده انصاري څخه اورېدلي دي چي ويل يې ما له نبي کريم ص څخه واورېدل چي ويل يې هيڅ چاته د خدای ج تر حدودو تر لس دُرې زياته سزا مه ورکوی. بخاري حديث ۱۷۴۶
د احاديثو ټول معتبر کتابونه په موږ ته پلاني وويل او ماته پلاني وويل پيل کيږي او په يوه کتاب کي هم، د صحيحينو په شمول، په هيڅ ځای کي پر ليکلي متن استناد نه کيږي. د ليکلو متونو نسته والي د سوونو زرو احاديثو جعل کېدلو ته لاره هواره کړه او که لا د احاديثو کتابونه ليکل سوي نه وای ښايی تر اوسه هم احاديث جعل کېدلای.
څرنګه چي ليکلي متون موجود نه ول نو د اسلام په مختلفو دورو کي مختلفو کسانو او ډلو د خپلو ګټو لپاره د احاديثو جعل کولو ته ملا وتړله. مثلاً مهلب بن ابی صفره، چي د خپلي زماني له ډيرو مشهورو پرهيزګارانو څخه وو، د خوارجو په مقابل کي احاديث جعل کړل او حتی ډېر کسان پوهېدل چي دغه احاديث يې جعل کړي دي مګر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ځرنګه چي دوی په دې عقيده وه چي په جنګ کي خدعه رواده نو د هغه پر جعل کړو احاديثو يې اعتراض نه کاوه. جرجی زيدان، تاريخ تمدن اسلام، ص ۴۶۹
جرجی زيدان ليکي چي د احاديثو جعل کولو د خلفاوو په زمانه کي ډېر رواج پيدا کړ او هر خليفه د خپل قدرت د ټينګولو او مدعا د ثابتولو لپاره د احاديثو جعل کولو ته ملات وتړله. دی د احاديثو د ځو تنو جعلونکو نومونونه يادوي چي په خپله زمانه کي تر ټولو مشهور ول:
ابن ابی يحيی په مدينه کي، واقدي په بغداد کي، مقاتل بن سليمان په خراسان کي او محمدبن سعيد په شام کي. هغه کتاب هغه مخ.

البته د ا يوازي خليفه ګان او حديث پلورونکي نه ول چي احاديث يې جوړول بلکه مختلفو ديني علماوو او د مختلفو عقايدو پيروانو هم د خپل استدلال د تقويه کولو لپاره د احاديثو جوړولو ته مخه کړه. صوفيانو، چي په وروسته کي يې د اسلام د قلمرو په هره ساحه کي نفوذ وکړ او تر ننی ورځي پوري يې نفوذ دوام لري د خپلي طريقي د صحيح ثابتولو او مريدانو د پيدا کولو او زياتولو لپاره احاديث جعل کړل: لا دين له لمن لا شيخ له. ځوک چي شيخ نه لري هغه دين نه لري او د چا چي شيخ نه وي د هغه شيخ شيطان دی.

په داسي حال کي چي حضرت رسول ص په خپل ټول ژوند کي د شيخ، مريد او طريقت نومونه پر خوله نه دي راوړي. نو دا يقيني خبره ده چي دغه ډول احاديث بايد پيرانو او شيخانو او يا د هغوی پيروانو جوړ کړي وي.

پاته لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۲/۱۰/۱۹

# احادیث

## ټول احادیث باید ومنل سي؟

دوېمه برخه

دې سوال ته ځکه جواب ویل لازم دي چي ملایانو او دیني عالمانو، له سل هاوو کلونو راهیسي، د خپلو خبرو او اوامرو د اثبات لپاره، په احادیثو استناد کړی دی. خو ځیني احادیث دونه کمزوري دي چي نه شرعی او نه عقلي اساس لري او نه پخپله احادیث له یوه بل سره برابري او توافق لري. مګر څرنګه چي د حدیث په نوم او هغه هم په عربي ژبه خلکو ته تقدیمېږي نو څوک یې په رد کي هیڅ نه سي ویلای.
د مثال په توګه: یوه ورځ مي په ټلوېزیون کي ولیدل چي یوه مُلا خلکو ته وعظ کاوه او ویل یې چي حضرت رسول ص فرمایلي دي چي زه د موسیقی د آلاتو د ماتولولو لپاره مبعوث سوی یم او دا ډېر معتبر حدیث دی. له ملا صاحب څخه هیچا پوښتنه ونه کړه چي حضرت رسول ص په خپل عمر کي کله د موسیقۍ آله ماته کړې او یا یې ساز ړغوونکی ډبولی او په سزا رسولی دی؟ د حضرت پیغمبر په کوم سیرة کي، چي زما په عقیده سیرة الرسول الله د محمدبن اسحق، د خپل قدامت له امله تر ټولو معتبر دی او په وروسته کي په کوم بل سیرة کي د دې مهم مأموریت د عملي کولو مثال موجود دی؟
یوه بله ورځ مي په یوه بل ټلوېزیوني پروګرام کي د یوه واعظ مُلا له خولې داسي خبره واورېده چي سړی یې په لیکلو شرمیږي خو څرنګه چي زموږ د ټولني ترجماني کوي نو مجبور یو چي ویې لیکو. مُلاصاحب ویل« یوه ورځ حضرت پیغمبر قضای حاجت ته ولاړ. یو ګړی وروسته یوه ښځه هغه ځای ته ورغله او د حضرت رسول ص غایطه مواد یې وخوړل. خلکو پیغمبرص خبر کړ او هغه له هغي ښځي څخه پوښتنه وکړه. ښځي ورته وویل چي هو ما هغه مواد خوړلي دي. حضرت پیغمبرص ورته وویل چي تازما غایطه مواد وخوړل ستا په نس کي به تر ابده لوږه نه پیدا کیږي»
مُلا صاحب د خپل وعظ په ترڅ کي دوه ځله په زوره ږغ کړل چي« ګوش کن مولوی صاحب ای حدیث است» په دې مجلس کي هیڅ چا اعتراض ونه کړ په داسي حال کي چي دغه مُلا باید په همدغه مجلس کي، حضرت پیغمبرص ته د توهین کولو په سزا رسول سوی او سخت ډبول سوی وای. حضرت پیغمبرص خپل ټول ژوند د خلکو په روزلو او خصوصاً پاکی ته په متوجه کولو تېر کړ. البته د مولوي دا وروستی خبري د نوري تبصرې ارزښت نه لري.
که څه هم چي امام بخاري او امام مسلم د احادیثو په جمع کولو او تصفیه کولو سره اسلام ته ډېر لوی خدمت وکړ. له یوې خوا یې ډېر زیات احادیث، چي په هیڅ توګه د منلو او اعتبار وړ نه وه، له منځه یووړل او له بلي خوا یې، د احادیثو په تصفیه کولو او جمع کولو سره د نورو احادیثو د جعل کېدلو مخه ونیوله خو له خپلو ټولو کوښښونو سره سره یې ځیني داسي احادیث واخیستل چي د حق متعال د ذات په برخه کي د قرآن شریف له متن او ایتونو سره صریح تضاد لري؛ ځیني داسي احادیث یې واخیستل چي د اعتماد وړ نه دي او ځیني داسي احادیث یې واخیستل چي موجودیت یې له احتمال څخه لیري دی.
په قرآن شریف کي د حق متعال د ذات او صفاتو په باره کي تر سلو زیات آیتونه موجود دي او دلته یې موږ د مضمون د اختصار په منظور یوه نمونه ذکروو. و لله المشرق و المغرب فاینما تُوَلّوا فَثَمَ وجه اللهِ اِنَّ الله واسعٌ علیم. سورة بقره آیة ۱۱۵ ترجمه: مشرق او مغرب ټول په حق تعالی اړه لري. هري خواته چي مخ کړې د الله تعالی له مخ ( وجهه، چي په عربي کي خپله خاصه معنا لري او په بله ژبه ترجمه کېدلای نه سي. جهاني) سره مخامخ کیږې. الله پر کایناتو حاوي او په هر څه دانا دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او یا د قرآن شریف د النُّور د سورة په ۳۵ آیة کي لولو چي« الله نورالسموات والارض الآیة» الله د مځکي او آسمانونو نور دی ...
په داسي حال کي چي همدغه دوه مبارک آیتونه د حق تعالی د ذات د پېژندلو لپاره کافي دی او هغه له ټولو بندګي خصوصیاتو څخه فارغ کوي خو موږ د احادیثو په دغو دوو معتبرو کتابونو کي ګورو چي باري تعالی ته د انسان څېره ورکوله کېږي او له اسلام څخه د مخکي مذاهبو په څېر بشېږ Anthropomorphism یا خالق ته بشري څېره ورکول مطرح دي:
ابو هُریره د پیغمبر ص له قوله ویلي دي چي د دوږخ او جنت تر منځ اختلاف سو او دوږخ ویل چي په ماکي به مغرور او سرکښه خلک اوسیږي. جنت ویل نو ولي به په ماکي کمزوري، عاجز، ساده او رټل سوي کسان اوسیږي؟ وروسته نو الله ج جنت ته وویل ته زما د رحمت وسیله یي او ستا په وسیله زه هغو کسانو ته خپل رحم ښیم چي زه یې غواړم او دوږخ ته یې وویل چي ته د سزا وسیله یي او ستا په وسیله زه خپلو هغو بنده ګانو ته چي زه غواړم سزا ورکوم. او تاسي دواړه به ډکیږی. دوږخ به هیڅ توګه نه ډکیږي او چي هر څومرهک دوږخیان ور لویږی دی به ناری وهي چي نور هم را واچوی؛ تر څو پوري چي خدای تعالی خپله پښه په هغه کي کښیږدی. دوږخ به ناري کړي چي کافي ده!کافي ده! کافي ده! او دا وخت به دوږخ ټول ډک وي او ټولي برخي به یې سره ونښلي. مسلم حدیث ۶۸۱۹
د حق متعال په باره کي دغه راز تصور کول او د هغه پښه په دوږخ ننه ایستل د هغه له ذات سره په هیڅ صورت نه لګیږي او سړی په زغرده ویلای سي چي دا حدیث د څو سوو کلونو په جریان کي سینه پر سینه او قول پر قول ګرځېدلی او تغییر یې کړی دی او بالاخره کفر ورڅخه جوړ سوی دی.
د صحیح مسلم په ۳۶۷ حدیث کي راغلي دي.« ابوزُبیر وایی چي ده له جابر بن عبدالله څخه واورېدل چي د قیامت په ورځ به د مختلفو مذهبونو پیروان حاضر وي او حق تعالی به ورته راسي او ورته وبه وایي چي زه ستاسي خدای یم. هغوی به یې نه مني او وایی به چي تر څو پوري دي موږ ته ځان راښودلی نه وي موږ یې نه سو منلای. نو دی به ځان په داسي حال کي چي تبسم به کوي هغوی ته وښیي. بیا به نو خدای دمخه سي او دا نور بنده ګان به ورپسي سي. که منافقان دي او که مومنان دي له ټولو سره به څراغونه ورسره وي. او هلته به د دوږخ پر سر باندي مېخونه او چنګکونه وي او منافقان به پکښی بند سي او د الله له ارادې سره سم به یې څراغونه مړه سي او ټول به دوږخ ته ولویږي....»
حق تعالی به، چي د میلیارډونو کهکشانونو او ټریلیونونو سیارو او لمرونو خالق دی، د خلکو په مخ کي حاضریږي او تبسم به کوي او بیا به دمخه کیږي او خلک به ورپسي وي او منافقان به پر پل صراط باندي په چنګکونو کي بندیږي او دوږخ ته به لویږي او مسلمانان به، چي مخونه به یې د ستورو په څېر ځلیږي، تر پله تیریږي او ټول به جنت ته ځي.
د حق تعالی د ذات په باره کي دغه ډول تصور او لیکنه کول، چي ټول مسلمانان یې بِلا کیف( د انسان تر تصور عقل او کیفیت لوړ) بولي، په هیڅ صورت له هغه سره نه جوړیږي؛ او محدثینو ته اصلاً په کار نه وه چي دغه ډول احادیث چي، د حق متعال د ذات د پېژندلو په برخه کي، ګمراه کوونکي دي نقل کړي وای.
محدثینو باید د حق د ذات په باره کي داسي احادیث یا یو حدیث را اخیستی وای چي دوی یې پر موثقیت باندي متیقین وای او د یوې موضوع په اړه یې درې، څلور یا پنځه مختلف نظرونه او نقلونه هیڅ اخیستي نه وای. مثلاً امام مسلم په ۳۴۱ حدیث کي د ابوذر له قوله وایي چي له حضرت رسول ص څخه مو پوښتنه وکړه چي خدای تعالی یې لیدلی دی کنه. هغه په جواب کي راته وویل چي حق تعالی خو نور دی زه نور څرنګه لیدلای سم؟ په ورپسي حدیث کي عبدالله بن صدیق د همدغه ابوذر له قوله وایی چي کله مي له حضرت رسول ص څخه پوښتنه وکړه چي خپل پروردګار یې لیدلی دی کنه هغه راته وویل چي ما یو نور ولیدی.
خو ابوهُریره په ۳۴۹ حدیث کي وایي چي « کله خلکو له حضرت رسولﷺ څخه سوال وکړ چي موږ د قیامت په ورځ خدای تعالی لیدلای سو؟ هغه په جواب کي ورته وویل چي تاسي د سپوږمی په لیدلو کي ستونزه لری؟ هغوی وویل چي نه. بیا یې سوال وکړ چي تاسي د لمر په لیدلو کي ستونزه لری؟ هغوی وویل نه. نو حضرت رسول ص ورته وویل چي تاسي به، د قیامت په ورځ، خدای تعالی په دغه ډول ووینی. »
د صحیح بخاری ۵۵۴ حدیث د همدغي موضوع په اړه وایي:
« الحُمیدی ویلي دي چي ماته مروان بن معاویه، او هغه ته اسماعلی ، او هغه ته قیس او هغه ته جریر ویلي دي چي موږ د بشپړي سپوږمی په شپه له حضرت رسول ص سره ملګري وو او هغه راته وویل لکه تاسي چي دغه سپوږمۍ وینی په یقین سره به د خپل خالق په لیدلو کي هیڅ ستونزه ونه لری...»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

یو حدیث وایي خدای نور دی زه نور څرنګه لیدلای سم. بل حدیث وایي ما یو نور ولیدی او بل حدیث وایي چي خدای به، لکه څرنګه چي سپوږمی او یا لمر وینی، په دغه شکل ووینی. بل حدیث وایي د ځوارلسم د بشپړي سپوږمی په شکل به یې ووینی. بل حدیث حتی وایي چي خدای به، د قیامت په ورځ، د خلکو په مخ کي حاضر او وروسته به ورسره روان سي. محدثینو باید په دې احادیثو کي یو انتخاب کړی او یا یې له سره اخیستي نه وای. که څوک په احادیثو کي ځیل فکر او غور نه کوي په هر صورت؛ خو که څوک له فکر څخه کار اخلي بیا خو یې دوه، درې، څلور نظرونه، چي یو له بل سره مخالف او ټول د حدیث په نامه ورته وړاندي سي، ګمراه کوي.

ابن مسعود د حضرت رسول اکرم ص له قوله وایی چي یو دوږخي به په قیامت کي له حق تعالی څخه وغواړي چي یو څه اساني ورسره وسي. د هغه غوښتني به پرله پسي زیاتیږی او بالاخره به حق تعالی ورته ووایی چي که د دنیا په اندازه پراخ جنت درکړم ته به راضي سي؟ د جنت غوښتونکی به حق تعالی ته ووایی چي ته زما سره ټوکي کوې؟ خدای به ورته ووایی چي ټوکي نه کوم بلکه تاته ښیم چي زه هر څه کولای سم. ابن مسعود د حضرت رسول اکرم ص له قوله وایی چي حق تعالی به د دغه بنده پر پرله پسي زیاتېدونکو غوښتنو باندي وخاندي. مسلم ۳۶۱

په داسي حال کي چي خندا او ژړا د بنده خواص دي. حق متعال ته دا خواص نه راجع کیږي. د دې معنا دا کېدلای سي چي دا حدیث، ولو ټولو محدثینو صحیح بللی وي، باید جعل سوی وي؛ ځکه چي حق متعال ته د خندا نسبت کول بالکل بندګي صفت دی.

دغه راز د صحیح مسلم ۶۴۱۸ حدیث کي راغلي دي: «عبدالله بن عمرو بن العاص ویلي دي چي حضرت پیغمبر ص وویل چي الله تعالی د آدم د ټول اولاد زړونه، لکه یو زړه، د خپلو ګوتو له جملې څخه په دوو ګوتو کي نیولي دي. حق تعالی دغه زړه، چي هري خواته یې اراده سي هغي خواته ګرځوي. وروسته نو پیغمبر وویل ای الله زموږ زړونه ستا د اطاعت خواته وګرځوه. »

لومړی خو انسان د حق متعال د ګوتو په باره کي تصور نه سي کولای. ګوتي، پښه او د وجود نوري برخي د بنیادم اعضاء دي. حق تعالی ته یې نسبت نه سي کېدلای. دوهم دا چي دا ډېره پخوانی او زړه مفکوره ده چي نیت او د اطاعت او نه اطاعت کولو اراده په زړه پوري اړه لري. په دې خبري موږ ټول پوهیږو چي زړه یوازي وجود ته د وینې رسولو وظیفه لري او د اطاعت کولو نه او نه کولو کار د مغز دی د زړه نه دی.

دغه راز د مسلم ۲۱۷۹ حدیث دی: « ابوهریره د حضرت پیغمبرص له قوله وویل چي الله ورته ویلي دي چي مصرفوه یې زه یې بیرته در پوره کوم. او پیغمبرص وویل چي د الله ښی لاس ډک دی؛ او د شپې او ورځي یې مصرفوي او کمبود نه پکښي راځي. تاسي نه ګورئ چي هغه د اسمان او مځکي د پیدا کولو څخه وروسته څونه لګښت کړی دی او څرنګه یې مصرفوي او چي څه یې په ښي لاس کي دي هغه نه کم سوي نه دي او نه کمیږي. د الله تخت پراوبو دی. او په کیڼ لاس کي یې مرګ دی. او د خپلي ارادې سره سم د چا مقام لوړوي او څوک کښته غورځوي»

حق متعال ته د لاسونو او هغه هم د کیڼ او ښي لاس نسبت کول، د هغه پښه په دوږخ ننه ایستل او دوږخ ورباندي ډکول، د هغه په ګوتو کي زړونه ورکول او یوې او بلي خواته ګرځول ټول انساني صفات دي. حق متعال د قرآن شریف د آیة مبارک په اساس د اسمانونو او مځکي نور دی. هغه ښی او کیڼ طرف نه لري. ښی او کیڼ لاس خو لا هلته پرېږده. ځکه دا ټول انساني صفات دي.

دا ټول هغه احادیث دي چي د حضرت رسول مبارک ص له وفات څخه وروسته لیکل سوي او اکثر یې جعل سوي دي. جعل یې ځکه بولو چي د حق تعالی د ذات له هغي معرفی سره چي په قرآن کریم کي سوې ده مغایرت لري. په احادیثو کي ځیني داسي خبري راغلي دي او داسي روایتونه حضرت رسول ص ته منسوب دي چي په هیڅ توګه د منلو وړ نه دي او د هیڅ ډول دیني احکامو او ورځني ژوند سره سر نه خوري؛ او هیڅ تصور نه سي کېدلای چي حضرت رسول ص به یو وخت داسي حکم هم کړی وي.

د مور د شیدو د رودلو Breast feeding مسله:

د قران شریف د سورة بقره په ۲۳۳ آیة کي راغلي دي چي میندي دي خپلو اولادونو ته دوه بشپړکلونه شیدې یا تی ورکوي. د دې آیة قطعي معنا دا کېدلای سي چي رضاعیة یا د شیدو خپلوي باید د دغو دوو کلونو په موده کي وي. په قرآن شریف کي، درضاعیة خپلوی د ټینګېدلو لپاره، د شیدو رودلو شمېر نه دی ذکر سوی او د دې معنا باید داوي چي یوازي یوځل د شیدو په رودلو سره باید رضاعي محرمیت قایم سي. خو په احادیثو کي دې حساسي موضوع ته بل رنګ اشاره سوې ده.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د صحیح مسلم ۳۴۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۹ او شلم حدیث د حضرت پیغمبر ص له قوله وایی چي په یوه یا دوه ځله شیدو رودلو رضاعي محرمیت منځته نه راځي. په ۳۴۲۱ حدیث کي د اُم المومنین عایشې رض له قوله ویل سوي دي چي په قرآن شریف کي، په لومړي سر کي راغلي وه چي که یوه ښځه یوه ماشوم ته لس ځله شیدې ورکړي نو رضاعي محرمیت منځته راځي. عایشه وایي دا شمېر وروسته پنځو ته را لږ سو خو په دغه وخت کي حضرت رسول ص وفات سو او دا آیة د هغه له وفات څخه مخکي په قرآن شریف کي وو او مسلمانانو هغه قرأت کاوه. (د دې معنا به داوی چي دا آیة مبارک ورک سوی دی؛ په داسي حال کي چي هغه د خلکو په حافظو کي وو او عایشه رض وایي چي مسلمانانو قراأت کاوه)
البته ، د همدغه حدیث په ارتباط، د صحیح مسلم په ۱۹۰۵ حاشیه کي راغلي دي چي فقهاوو پر دې مسلې باندي جوړه سره وکړه او حکم یې وکړ چي په یو یا دوه ځله شیدو رودلو رضاعي محرمیت منځته راځي او د رضاعي خپلوانو ترمنځ نکاح حرامیږي. د دوی دلیل دا وو چي حضرت پیغمبرص ویلي دي چي د وینو خپلوي او رضاعي خپلوي یو شان ده. په داسي حال کي چي د نر او ښځي په یوه ځل یوځای کېدلو یا جماع کولو په وسیله نطفه تشکیلیږي او محرمیت منځته راځي نو په یوه ځل شیدو رودلو هم محرمیت منځته راځي.
کله چي په دې اړه نور احادیث ګورو نو خبره داسي ځای ته رسیږي چي سړی هیڅ باور نه سي کولای چي دا به ګوندي ریشتیا احادیث وي . مثلاً د صحیح مسلم د ۳۴۲۴ څخه تر ۳۴۲۸ پوري، په پنځو احادیثو کي راغلي دي چي یوه ښځه حضرت پیغمبرص ته راغله او عرض یې وکړ چي د سلیم په نوم زموږ آزاد کړی غلام، چي زموږ په کور کي لوی سوی دی، اوس ځوان سوی دی او زما مېړه زموږ کورته د سلیم آزادانه تګ او راتګ نه خوښوي. حضرت رسول ص ورته وایي چي هغه ته شیدې یعني تی ورکړه او هغه به ستاسره محرم سي. هغه ښځه بالاخره حضرت پیغمبر ته وایي چي سلیم خو ږیره لري زه څرنګه هغه ته تی ورکړم. حضرت پیغمبرص ورته وایي چي زه درته وایم تی ورکړه. هغې هم سلیم ته تی ورکړ او هغه د ښځي په کور کي محرم سو او ښځه یې مور سوه.
آیا دا امکان لري چي حضرت پیغمبرص دي داسي امر کړی وي؟ څرنګه یوه ځوانه ښځه یوه پردي ځوان ته، چي ږیره یې هم راغلې وي، خپله سینه دوه درې ځله لوڅولای سي او هغه ځوان خوله باندي ایښودلای او شیدې یې رودلای سي؟ آیا دا ممکنه ده چي د داسي عمل او د هغه عمل د تکرار په صورت کي دي د ناروا جنسي رابطې د ټینګېدلو مخه ونیوله سي؟ او که دا په ریشتیا هم حدیث وي نو اوس به له عامي سړي څخه نیولې تر ملا پوري ځوک خپلي ښځي ته اجازه ورکړي چي یوه بېګانه ځوان ته، چي ږیره یې لا هم راغلې وي، خپله سینه لوڅه کړي او هغه ته دوه درې ځله تی ورکړي؟ طبیعي خبره ده چي هیڅ ځوک به دې کار ته حاضر نه سي او که خبره داسي وي نو ولي د امام مسلم کتاب ته صحیح مسلم او د احادیثو معتبر کتاب ویل کیږي او ولي پر دې ډول احادیثو باندي تجدید نظر نه کیږي او لا ولي هر کال له سره چاپیږي.
داحادیثو کتابونه، لکه مخکي چي مو وویل، پر لیکلو کتابونو او اسنادو حواله نه ورکوي او ټول پر نقل قول ولاړ دي. په دې سلسله کي ابوهُریره ته تر ټولو زیات احادیث منسوب دي. ویل کیږي چي هغه ته څه د پاسه ۵۰۰۰ احادیث منسوب دي او Encyclopaedia of Islam هغه ته د منسوبو احادیثو شمېر ۳۵۰۰ قید کړی دی. په داسي حال کي چي د احادیثو په معتبرو کتابونو کي داسي کسان چنداني نسته چي تر ۳۰۰ زیات احادیث دي ورته منسوب وي. بالآخره ابوهُریره ځوک وو؟
ابوهُریره له مسلمان کېدلو څخه مخکي عبدالشمس نومېدی او کله چي مسلمان سو نو حضرت رسول ص د هغه لپاره عبدالرحمن نوم انتخاب کړ. خو څرنګه چي د خپلي وړې پشو سره یې ډېره مینه درلوده او همېشه به ورسره وه نو حضرت رسول ص هغه د پشینګوړي یا د پشي د بچي پلار یا ابوهُریره وباله.( هِر په عربي ژبه کي نر پشو، هِرة ماده پشي او هُریره د پشو بچي ته وایي) هغه په دې نوم دونه مشهور سو چي اصلي نوم یې بیخي د خلکو له یاده ووت او د احادیثو په کتابونو او په تاریخي آثارو کي یې یوازي همدغه نوم یادیږي.
ابوهُریره پخپله ویلي دي چي هغه یو شپانه وو او د کلیوالو د رمو په څرولو او ساتلو یې ګوزاره کوله. له دې خبري څخه معلومیږي چي هغه باید مطلق بېسواده وو. ویل کیږي چي ابوهُریره د خپلي ناروغي مور د علاج کولو لپاره مدینې ته تللی وو او دا وخت حضرت رسول ص د خیبر غزا ته وتلی وو چي په دې حساب د هجرت اووم کال او ۶۲۹ میلادي کیږي. ګواکي ابوهُریره، د حضرت رسول اکرم ص له وفات څخه مخکي، څه باندي درې کاله په اسلام کي تېر کړي دي.
څرنګه چي ابوهُریره تر اندازې زیات احادیث نقلول نو د ده په ژوند کي هم خلکو د هغو احادیثو د صحت او سقم په برخه کي شکونه درلودل. حتی ویل کیږي چي حضرت عمر او حضرت علی رض هغه د احادیثو له نقلولو څخه منع کړی وو. خو دی پخپله وایي چي دی ځکه زیات احادیث نقلوي چي « تر نورو کسانو یې له حضرت رسول


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ص سره زيات وخت تېرکړی دی. په داسي حال کي چي نور کسان به د دنيا په کاروبار لګياول ده به ټول وخت حضرت رسول ته غوږ نيولی وو او چي هغه به هر څه ويل ده به ذهن ته سپارل.» مګر خبره دا ده چي ابوهُريره له يوې خوا يوازي څه باندي درې کاله په اسلام کي تېر کړي او له بلي خوا يو مطلق بېسواده سړی وو. دا چنداني ممکنه نه ده چي يو بېسواده سړی دي په دغه اندازه احاديث حافظې ته وسپاري. او له بلي خوا کشکي دا احاديث پخپله ابوهُريره نقل کړي وای. هغه احاديث چي د ابوهُريره له قوله نقل سوي دي پخپله پنځه شپږ ځله سينه پر سينه سوي نقل سوي او تر خلکو او محدثينو پوري رسېدلي دي. کله کله يو حديث په درې څلور ډوله نقل سوی وي؛ دغه علت دی چي سړی اکثر احاديث صحيح نه سي بللای. ځکه ځيني داسي احاديث هم سته چي له دريو څخه تر پنځو مخونو پوري يې نيولي وي. په دې احاديثو کي يو هم، په صحيح مسلم کي ۶۶۷۰ حديث دی. دا د کعب بن مالک هغه داستان دی چي د حضرت رسول ص څخه، د تبوک په جنګ کي، تر شاپاته سوی او په جنګ کي يې برخه نه وه اخيستې او په مدينه کي د پاته کېدلو لپاره يې هيڅ پلمه نه درلوده. حضرت پيغمبر پر هغه باندي دونه په غوسه وو چي د مدينې مسلمانانو ته يې ويلي وه چي له ده او دوو نورو صحابه وو سره، چي د ده په څېر په مدنيه کي پاته سوي وه، هيڅ خبري ونه کړي. تر څو چي د حق متعال د لوري، د هغوی په حق کي، آية نازل سو او حضرت پيغمبر هم دوی ته عفو وکړه.....

څرنګه امکان لري چي درې يا څلور يا پنځه صفحې دي دوه دوه نيم سوه کاله سينه پر سينه نقل سي او د هغه په صحت دي سړی اعتماد وکړای سي. ځکه دا خو عادي نکلونه نه دي چي سينه پر سينه نقلېدل يې چنداني ستونزه نه لري. په احاديثو کي تاريخي پيښي، د اشخاصو نومونه، کلونه، اعداد، احکام او نواهي راغلي دي او سينه پر سينه انتقالول يې مسووليت لري.

پاته لري

د افغان جرمن آنلاين په پورتال کی د ښاغلی جهانی صاحب آرشيف ..



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۲/۱۰/۲۰

# احادیث

## ټول احادیث باید ومنل سي؟

دریمه برخه

ځیني احادیث له دیني احکامو سره نه لګیږي او سړی اټکل کولای سي چي باید لاس وهنه پکښې سوې وي. مثلاً د صحیح مسلم ۲۵۳۰ حدیث کي راغلي دي:
سلامه بن الاکوا ویلي دي چي « پیغمبرص د عاشورا په ورځ د اسلم قبیلي ته احوال واستاوه او حکم یې وکړ چي ټول خلک باید روژه ونیسي او که یې چیري ډوډۍ خوړلې وي نو تر ماښام پوري دي شی نه خوري او روژه دي ونیسي.»
د همدې حدیث په تعقیب ۲۵۳۱ حدیث وایی «د معاوید بن افرا لور رباعي وویل چي پیغمبرص د عاشورا په ورځ د مدیني پر شاوخوا د انصارو کلیو ته سړي واستول او خلکو ته یې حکم وکړ چي هغه کسان چي سهار وختي پاڅېدلي او تر اوسه یې څه نه دي خوړلي هغوی دي روژه ونیسي او هغو کسانو چي سهار یې ناشتا کړې ده باقي ورځ دي تر ماښامه روژه ونیسي. انصارو ویل چي موږ په هغه ورځ روژه پیل کړه او خپل ماشومان مو هم روژې نیولو ته مجبور کړل. موږ جومات ته ولاړو او هلته مو د دوی لپاره له وړیو څخه د لوبو شیان جوړ کړل. کله چي به دوی وږي سول او ژړل به یې نو موږ به هغوی د لوبو په شیانو مشغول کړل؛ تر څو د روژه مات وخت را ورسېدی. »
لومړی خو د عاشورا په ورځ د روژې نیول نفلي حیثیت لري او که فرض وای نو حتماً به یې په قرآن شریف کي دکر راغلی وای او د نورو فرضو په څېر به یې دایمي شکل اخیستی وای. که داسي وای نو الله متعال به خپل پیغمبر ته لږترلږه یوه هفته مخکي اطلاع ورکړې وای. که چیري دا روژه نیول سوې وي وروسته بیا هیڅ وخت تعقیب سوې نه ده او که چا روژه نیولې وي نو هغه نفلي حیثیت لري.
دوهمه خبره، چي تر لومړی خبري مهمه ده هغه دا ده چي، پر ماشومانو باندي، په تېره بیا هغه واړه ماشومان چي له لوږي ژاړي په هیڅ کتاب کي روژه نیول حتمي او فرضي نه دي. د انصارو قبیلي یا قبیلو دا حکم د چا په امر عملي کړی دی او څرنګه یې پر خپلو وړو ماشومانو باندي دا ظلم روا کړی دی. مهمه دا ده چي حضرت پیغمبر د هغوی ماشومان نه لیدل چي په جومات کي یې له لوږي ژړل؟ هغه څرنګه دوی ته نه ویل چي روژه نیول د لویانو لپاره ده او د نابالغو په تېره بیا وړو ماشومانو لپاره په هیڅ صورت نه ده راغلي.

### د ښځو د حقوقو مسله:

په قرآن شریف کي ښځو ته، د وخت تر شرایطو زیات، حقوق ورکړه سوي او د ښځو د حقوقو رعایت فرض کړه سوی دی. خو، د افغانستان په څېر، وروسته پاته ټولنو کي کله کله ښځو ته ډېر لږ او حتی هیڅ حق نه ورکول کیږي. د مېړه د انتخاب، چي تر ټولو لویه او مهمه حیاتي مسله ده، حق نه ورکول کیږي. د میراث له حق څخه، چي په قرآن شریف کي ورکړه سوی دی، محرومې وي. ښځې د مېړه په کور کي وهل کیږي او ترټل کیږي. د پېغلو نجونو د ارادې په خلاف، په بدل کي ورکولې کیږي او کونډې په زور او جبر د مېړه له ورور او یا د کاکا له زوی سره واده کولو ته مجبوریږي او...
سره له هغه چي له اسلام څخه مخکي عربو یا د جاهلیت په دوره کي هم د ښځو د نکاح کولو لپاره دوه عاقل او بالغ شاهدان لازم ول چي باید د ښځې له خولې یې اقرار اخیستی وای او بیا به یې نکاح کوله؛ او په اسلام کي هم، له اول څخه تر اوسه پوري، د نجلی او کونډې څخه، د دوو شاهدانو په حضور کي، د موافقي اقرار اخیستل کیږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

او بیا نو د نکاح مراسم پیل کیږي؛ او د ښځې له اقرار پرته نکاح نه صحیح کیږي خو د صحیح بخاري د أُردو چاپ په کتاب الحیل کي ۶۵۰۰ او ۶۵۰۲ احادیث، چي دواړه د ابوهریره له قوله نقل سوي دي، عجیب ډول حکم کوي:
« مسلم بن ابراهیم د هشام او هغه د یحیی بن ابی کثیر او هغه د ابوسلمه او ابوسلمه د ابوهریره له قوله وایی چي نبی کریم ص ویلي دي چي تر څو پوري مو د پېغلي نجلی له خولي اقرار نه وي اخیستی تر هغه وخته پوري به د هغې نکاح نه تړی. او دغه راز به د کونډي نکاح هم تر هغه وخته پوري نه تړی چي د هغې له خولې مو اقرار نه وي اخیستی. له حضرت رسول ص څخه پوښتنه وسوه چي د پېغلي نجلی څخه به اجازه څرنګه اخلو؟ حضرت رسول ص وویل چي د هغې خاموشي هم د هغې د اجازې معنی لري.
له دې حکم سره سره هم ځیني کسان وایي چي که د پېغلي نجلی څخه اجازه وانه خیستله سي او نه د هغې نکاح سوې وي خو یو څوک دوه د دروغو شاهدان پیدا کړي او هغوی اقرار وکړي چي نجلی موافقه کړې ده او قاضی د هغې نجلی نکاح وتړي او منظور یې کړي. په داسي حال کي چي مېړه یې پوهیږي چي شاهدانو دروغ ویلي دي او د نجلی له خولي اقرار نه دی اخیستل سوی مګر مېړه ته له نجلی سره یوځای کېدل( جماع) روا دي.»
د دې حدیث ډېره لویه کمزوري په دې کي ده چي ابوهریره د حضرت رسول ص له قوله وایي چي آنحضرت ص وویل د نجلی خاموشي د اقرار معنی لري. دلته باید حدیث ختم سوی وای.
امام بخاري باید د نورو کسانو، چي معلوم نه دي، د ده مطلب څوک دي، خبري ته اشاره نه وای کړې .ځیني کسان څوک دي چي وروسته یې د دروغو د شاهدانو په نیولو سره د نجلی نکاح روا کړې ده. امام بخاري باید یا ځیني کسان روښانه کړي او ویلي یې وای چي هغوی هم د رسول اکرم ص له قوله رغیږي او یا یې باید خپل حدیث د آنحضرت ص له قول سره ختم کړی وای. ځکه چي ټول خلک دې وروستي حکم ته د حدیث په سترګه ګوري او علت یې دا دی چي هغه حکم د حدیث سره یو ځای راغلی دی.
په صحیح مسلم کي له ۳۳۰۳ څخه تر ۳۳۰۸ پوري د ابوهریره، عایشي، ابن عباس او صفیان له قوله پنځه احادیث نقل سوي او په هغوی ټولو کي راغلي دي چي کونډه د خپل نفس تام اختیار لري او په دې برخه کي یې تر خپل ساتونکي یا نګهبان حق زیات دی او د پېغلي نجلی خاموشي د هغې د اقرار معنی لري. په دې احادیثو کي، د صحیح بخاري په خلاف، د ځینو کسانو قول نه دی راغلی او له احتیاط څخه کار اخیستل سوی دی.
سره له هغه چي حضرت رسول ص ښځو ته درناوی درلود او د هغوی ترمنځ یې تر وسه وسه پوري عدالت کاوه؛ خو هغه ته داسی احادیث منسوب دي چي د ښځو اجتماعي مقام ته سپکاوی ګڼل کېدلای سي. لکه مخکي چي مو وویل، احادیث د حضرت رسول ص له وفات څخه لږترلږه دوه نیمی صدۍ وروسته جمع سوي او خپاره سوي دي نو سړی په یقین سره ویلای سي چي په دې احادیثو کي به یا سهواً یا قصداً لاس وهل سوی وي.

د صحیح بخاري په ۳۰۴ حدیث کي راغلي دي:
سعید بن ابو مریم د محمدبن جعفر او هغه د زید او هغه د بن اسلم او هغه د عیاض بن عبدالله او عیاض د ابی سعید الخُدري له قوله وایي چي « یو وخت حضرت رسول ص د عیدالاضحی او یا ښایی عیدالفطر لپاره د جماعت لمانځه ته روان وو او په لاره کي یې ناستو ښځو ته وویل: اې ښځو خیراتونه وکړی. ما ولیدل چي د ښځو اکثریت به دوږخ ته ځي. دوی سوال وکړ چي دا ولي؟ ده په جواب کي ورته وویل چي تاسي هر وخت ښراوي او ښکنځل کوی او د خپلو مېړونو احسان نه منی. تاسي تر ټولو بې عقلاني او ناقص الدین یاست. تاسي کولای سی چي یو هوښیار او محتاط سړی وغولوی او له لاري یې وباسی. ښځو پوښتنه وکړه چي یا رسول الله ولي؟ ده په جواب کي ورته وویل چي ستاسي د کم عقلی ثبوت دا دی چي دوې ښځې پر یوه شاهد حساب دي او فکر نه کوی چي دا ستاسي د کم عقلی ثبوت دی؟ دوی وویل چي هو. وروسته حضرت پیغمبرص ورته وویل تاسي ټولي په دې نه پوهیږی چي ښځې په هره میاشت کي د خپل حیض په شپو کي نه لمونځ کولای سي او نه روژه نیولای سي؟ ښځو وویل چي بلې همداسي ده. حضرت پیغمبر ورته وویل چي همدغه دلیل دی چي تاسي ته ناقص الدین ویل کیږي.»
په داسي حال کي چي حیض او نفاس د ښځو له طبیعت سره تړلي دي او له دین سره یې هیڅ ډول ارتباط نه لري. ځکه چي هغوی همدغه د اسلام دین، د حیض او نفاس په وخت کي، له لمانځه او روژې نیولو څخه منع کړي دي. او کله چي ښځو ته، د نارینه په څېر، اجتماعي زمینه برابره سوې ده په هره علمي او سیاسي ساحه کي یې له نارینه سره مساوي برخه اخیستې او په هیڅ برخه کي له نارینه څخه پاته نه دي راغلي.
د صحیح مسلم ۱۰۳۲ حدیث کي، د ابوذر له قوله راغلي دي چي که ښځه، سپی او یا خر، د لمانځه په وخت کي، د چا مخ ته تېر سول نو لمونځ یې فاسد کیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په ۱۰۳۴ حدیث کي د ابوهریره له قوله هم نقل سوی دی چي که ښځه، سپی او خر د چا د لمانځه مخ ته تېر سول نو لمونځ یې فاسد کیږي.
په ۱۰۳۵ حدیث کي عایشې رض، د اعتراض په توګه، وویل چي حضرت رسول ص به چي لمونځ کاوه زه به د هغه او د قبلې ترمنځ پرته وم؛ او کله چي به یې د وِتر نیت کاوه نو پر ما به یې هم بِږغ وکړ او ما به هم وتر ورسره وکړه. په دغه ارتباط د اصحابو او عایشې له قوله پنځه شپږ احادیث راغلي دي.
په ۱۰۴۱ حدیث کي د حضرت پیغمبر مېرمن میمونه وایی پیغمبر ص به چي لمونځ کاوه زه به د هغه او قبلې ترمنځ پرته وم او زه به په حیض کي وم او کله کله چي به هغه سجدې ته ولاړ نو جامې به یې زما سره ولګېدې.
په صحیح بخاري کي، په دغه ارتباط ، پنځه شپږ احادیث راغلي دي او په حدیث ۵۱۹ کي ام الموءمنین عایشه رض اعتراض کوي او وایی دا ښه کار نه دی چي تاسي موږ ښځې له سپیو او خرو سره یو شان بولې. په داسي حال کي چي حضرت رسول ص به لمونځ کاوه او زه به د هغه او د قبلې ترمنځ پرته وم....
د ښځې د اجتماعي او کورني مقام او له هغې سره د سلوک په برخه کي هم، د ابوهریره له قوله، له ۳۴۶۶ څخه تر ۳۴۷۱ پوري، پنځه احادیث نقل سوي دي او په ټولو کي یې، د حضرت رسول ص له قوله، ویلي دي چي ښځه لکه پوښتۍ( قبرغه) داسي کږه ده. که یې د سمولو کوښښ وکړې نو ماتیږي او که یې همداسي کږه پر پرږدې نو ګوزاره ورسره کېدلای سي او ګټه ورڅخه اخیستل کېدلای سي.
په همدغه ارتباط، همام بن مُنبِه په ۳۴۷۲ حدیث کي، د ابوهریره له قوله وایي. حضرت پیغبرص وویل که چیري د اسراییلو شامت نه وای نو پاته سوي خوراکي شیان به هیڅ وخت نه خرابېدلای او نه به ورستېدلای او که چیري حوا نه وای ښځو به هیڅ وخت له خپلو مېړونو سره بې وفایی نه کولای.
د بخاري په ۱۰۵۲ حدیث کي راغلي دي چي حضرت پیغمبرص د لمر د ترندي په وخت کي په جومات کي لمونځ وکړ او کله چي یې لمونځ پای ته ورساوه لمر هم له ترندي خلاص سوی وو. خلکو پوښتنه ورڅخه وکړه چي« یا رسول الله موږ ولیدل لکه تاچي یو شی په لاس کي واخیست او بیا مو ولیدل چي ته پر شا سوې. حضرت پیغمبرص وویل ما جنت ولیدی او د هغه د مېوو خواته مي لاس اوږد کړ. او که مي دا مېوې را اخیستي وای نو تاسي به تر قیامته خوړلای او هغه به نه ختمېدلای. ما دغه راز دوږخ ولیدی او په ژوند کي مي دومره خطرناکه منظره نه وه لیدلې. ما وکتل چي اکثریت دوږخیان ښځې دي. خلکو سوال ورڅخه وکړ چي یا رسول الله علت یې څشی دی. ده په جواب کي ورته وویل هغوی ډیري ناشکري دي. خلکو پوښتنه ورڅخه وکړه چي آیا دوی د الله ناشکري کوي؟ حضرت پیغمبر وویل دوی د خپلو مېړونو ناشکري کوي او له احسان څخه یې منکري دي او د هغوی ښو عملونو ته نه ګوري. که تاسي له هغوی سره ټول ژوند ښه وکړی او دوی په تاسي کي یوه غلطي وویني نو وایی به چي ما ستا څخه هیڅ ښه نه دي لیدلي»
البته ورځني او کورني ژوند او له سل هاوو او زرهاوو کلونو راهیسي، د ښځو او نارینه ترمنځ، د اړیکو تاریخ ثابته کړې ده چي ښځې ښایی ، له مېړونو سره، په سلو کي درې او یا څلور بې وفایي وکړي او یا یې کړې وي او نارینه په همدغه فیصدي یعني په سلو کي ۹۵ او لا زیات بې وفا دي او چي وس یې رسېدلی دی له خپلو ښځو سره یې بې وفایی کړې ده. تاریخ ښودلې ده چي نارینه واکمنانو حتی په زرو، دوو زرو او شپږو زرو ښځو هم قناعت نه دی کړی. ښځې ته نه دا تاریخي او اجتماعی فرصتونه برابر سوي او نه یې استفاده ورڅخه کړې ده.
په تورات کي حایضة ښځه تقریباً نجسه ګڼل سوې او له هغې څخه د لیري کېدلو توصیه سوې ده او حتی د هغې د لاس خواړه هم څوک نه خوري. ثابت د صحیح مسلم ۵۹۲ حدیث د انس له خولې نقلوي چي یهودو له حایضې ښځې سره ډوډۍ نه خوړله او حتی تر یوه چت لاندي یې ژوند نه ورسره کاوه. اصحابو له حضرت رسول ص څخه د حیض په باره کي سوال وکړ او الله تعالی آیة نازل کړ چي دوی ستاڅخه د حیض په باره کي پوښتنه کوي. حیض چټلي او کثافت دی او کله چي ښځه حایضة وي له هغې څخه لیري اوسی.
حضرت رسول ص خپلو اصحابو ته وویل چي له حایضې ښځې سره له جِماع کولو پرته بل هر کار کولای سی.
د حضرت رسول ص مېرمن اُم سلامة په ۵۸۱ حدیث کي وایی یوه شپه، کله چي زه له حضرت رسول ص سره په ځای کي پرته وم؛ زه حایضة سوم. له ده څخه لیري سوم او ټوکر مي واخیست. حضرت رسول ص پوښتنه راڅخه وکړه چي حایضة سوې؟ ما ورته وویل هو! ده زه ور وبللم او زه بیرته ورسره پرېوتلم. دا وروسته وایي چي ما او حضرت رسول ص تر جِماع کولو وروسته معمولاً له یوه لوښي څخه د غسل لپاره اوبه اخیستلې.
عایشه رض په ۵۹۰ حدیث کي وایی کله چي به زه په حیض کي وم ما به له لوښي څخه اوبه وچښلې. هغه لوښی به مي حضرت رسول ص ته ورکړ او هغه به د لوښي له هغه ځایه څخه چي ما به خوله ورباندي ایښې وه اوبه چښلې. کله کله به مي هډوکی وچیچی او بیا به مي حضرت رسول ص ته ورکړ او هغه به له هغه ځایه څخه چي ما به چیچلی وو غوښي وچیچلې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

عایشه په ۵۹۱ حدیث کي وایی: کله چي به زه په حیض کي وم؛ حضرت رسول ص به زما په غېږ کي پروت وو او قرآن شریف به يي لوست.
د بخاري ۳۰۲ حدیث د اسماعیل بن خلیل او هغه د علی بن مُسهِر او هغه د ابواسحق او هغه د شیبانی او هغه د عبدالرحمن بن الاسود، او هغه د خپل پلار او پلار يي د عایشي له قوله وايي« کله چي به د الله پیغمبر غوښتل چي له خپلو ښځو سره، د هغوی د حیض په وخت کي، لوبي وکړي نو هغوی ته به يي وویل چي پرتوګ واغوندي یا د حیض ټوکر واخلي او وروسته به يي له هغي سره په لوبو پیل وکړ. عایشه وایی هیڅ انسان د حضرت پیغمبرص په څېر پر خپلو جنسی غرایزو باندي کنټرول نه لري»
د بخاري ۷۰۹۹ حدیث وايي « عثمان بن الهیثم د عوف، هغه د الحسن، هغه د ابی بکره له قوله وایي چي د الجمل په جنګ کي( چي یوې خواته ام المونین عایشه، طلحه او زبیر او بلي خواته علی رض وو، جهاني) الله ماته له یوې کلمي څخه ډېره ګټه ورسوله. کله چي حضرت پیغمبرص واورېدله چي ایرانیانو د خسرو لور خپله پاچا ټاکلي ده نو وې ویل چي هغه قوم به هیڅ وخت بریالی نه سي چي ښځه يي خپله واکمنه کړې وي.»
دا چي دا حدیث به څومره دقیق او موثق وي زه څه نه سم ویلای خو سړی دونه ویلای سي چي په دې ۱۴۰۰ کالو کي اجتماعي شرایطو او په ټولنو کي د ښځو مقام دونه تغییر کړی دی چي د هغې زماني له شرایطو سره د مقایسي وړ نه دي. په هغه زمانه کي ښځي اصلاً د واکمن کېدلو لپاره ډېره لږه زمینه درلوده؛ او په ټوله نړی کي د پلارسالاری کورنی او اجتماعیي نظام حاکم وو؛ او که کومي ښځي واکمني اخیستي وي نو هم د نارینه د مخالفتونو او دسیسو په وجه بیرته نسکوره سوې ده.
مګر په شلمه او یویشتمه پېړی کي په هند کي ایندراګاندهي، د اسراییلو صدراعظمي ګولدامایر، د جرمني صدراعظمي انګیلا مرکل، د سري لانکا صدراعظمي بندرانایکا، د برتانیي صدارعظمي مارګریت تاچر، د بنګله دیش صدراعظمي حسینه واجد او .... وښودله چي ښځه په واکمني او اداره کي نه یوازي په هیڅ لحاظ تر نارینه پاته نه ده بلکه تر میلیونونو نارینه وو ښه اداره کولای سي. دغه ګړی د نړۍ په پوهنتونونو کي په سل هاوزره پروفیسراني، په میلیونو ښوونکي، ډاکترانی، مدافع وکیلاني، انجنیراني او په هره علمي ساحه کي داسي ښځي سته چي نارینه يي په مشکله سیالي کولای سي. البته لا اوس هم ښځو ته، د نړۍ په مختلفو سیمو کي، بشپړه او له نارینه سره مساوي زمینه برابره سوې نه ده او کنه نو له نارینه سره په هر مقام او هره ساحه کي بشپر رقابت کولای سي.

د لیکوال آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۲/۱۰/۲۳

# احادیث

## ټول احادیث باید ومنل سي؟

ځلورمه برخه

مخکي مو وویل چي امام اسماعیل بخاری او امام مسلم بن الحجاج، چي، د سنیانو په عقیده یې، د احادیثو کتابونه د احادیثو تر نورو ټولو کتابونو معتبر دي، د حضرت رسول ص له وفات څخه څه کم دوه نیم قرنه وروسته، د خلکو له قوله، احادیث جمع او سره کړل. ځرنګه چي احادیث څه کم دوه قرنه لاس پر لاس سوي ول نو طبیعي خبره ده چي زیات تغییرات پکښي راغلي وه. د مثال په توګه، د صحیح مسلم څخه، یو حدیث، چي عجیب او غریب تغییرات پکښي راغلي دي را اخلو:

ابوهُریره ویلي دي « کله چي حضرت رسول ص د خیبر له جنګ څخه راستون سو نو پر ده باندي خوب غلبه وکړه.( دا خبره مو باید په یاد وي چي ابوهریره د خیبر په جنګ کي برخه نه درلوده. لا مسلمان سوی نه وو او خپله مور یې د تداوي لپاره مدیني ته راوستلې وه) حضرت رسول" بلال ته وویل چي ته د شپې پهره کوه. حضرت رسول ص او نور اصحاب ویده سول او بلال ټوله شپه لمونځونه کول. بالاخره پر بلال باندي هم خوب غلبه وکړه او هغه هم ویده سو. کله چي لمر را وخوت نو حضرت رسول ص لومړنی سړی وو چي له خوبه را پاڅېد او پر بلال باندي یې ږغ وکړ چي موږ دي ولي د سهار پر وخت ویښ نه کړو . بلال ورته وویل چي زما مور او پلار دي ستا قربان سي ماته هم خوب راغلی وو. نو حضرت رسول ص وویل چي حیوانان مو را رهي کړی. ټولو خپل اوښان روان کړل او څه فاصله ولاړل. حضرت رسول ص اودس وکړ. بلال اقامة وویل او لمونځ یې په جماعت وکړ...»

ابوهریره په ورپسي حدیث کي وایي چي موږ، د استراحت لپاره، په لاره کي تم سولو او تر لمرخاته پوري له خوبه را ویښ نه سولو... ( ابوهریره اصلاً موجود نه وو، ځکه دا حدیث د خیبر له جنګ سره اړه لري)

ابوقتاده، د همدغي پیښي په باره کي، یو لوی داستان را اخیستی دی چي هیڅ امکان نه لري د دوه نیم قرنه لاس پر لاس کېدلو سره یو عالم تغییرات نه وي پکښی راغلي. ابوقتاده وایي:

ابوقتاده د خیبر نوم نه اخلي او وایي چي « پیغمبرص موږ ته وویل چي تاسي به ټوله شپه سفر وکړی او سهار به اوبو ته ورسیږی. نو ټولو خلکو حرکت پیل کړ او پیغمبرص هم تر نیمي شپې پوري سفر کاوه. پیغمبرص خوب یووړ او یوې خواته کوږ سو. زه ورغلم او اوږه مي ورکړه او هغه مي په ځان پوه نه کړ؛ تر څو چي هغه ویښ سو او ځان یې پر اوښ باندي سم کړ او سفر ته یې دوام ورکړ. یو ګړی وروسته پر هغه باندي بیا خوب غلبه وکړه او یوې خواته کوږ سو. زه بیا ورغلم او تکیه مي ورکړه. تر څو پوري چي پیغمبر ویښ سو او بیا یې ځان د اوښ پر شا باندي سم کړ. دریم ځل دونه خوب غلبه ورباندي وکړه چي نیژدې وو له اوښ څخه ولوېږي او زه ډېر ژر ورغلم او اوږه مي ورکړه تر څو چي پیغمبر له خوبه را ویښ سو. پیغمبر وویل چي دلته باید تم سو او لږ دمه وکړو. پیغمبرص ویده سو او پر موږ باندي هم خوبونو غلبه وکړه او ټول ویده سولو. سهار لمر را ختلی وو چي موږ را ویښ سولو. پیغمبرص تر ټولو لومړی را ویښ سو. زما سره په یوه لوښي کي اوبه وې پیغمبر ص په هغه اودس وکړ او ډیري لږي اوبه پاته سوې او پیغمبرص لږ وروسته د سهار لمونځ وکړ. نور ملګري هم را پیدا سول او په ګډه مو حرکت پیل کړ. هوا ډېره توده وه او ټول ملګري مو دونه ستړي او تږي ول چي له تندي مرګ ته نیژدې ول او ټولو شکایت پیل کړ. پیغمبرص ماته وویل چي هغه د اوبو لوښی راوړه. د اوبو په لوښي کي ډیري لږي اوبه پاته وې. پیغمبر ص له هغه لوښي څخه یوه یوه پیاله ډکوله او خپلو ملګرو ته یې اوبه ورکولې تر څو چي ټول اوبه سول...» صحیح مسلم حدیث ۱۴۵۰



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

عمران بن حسين وايی په هغه شپه زه هم حاضر وم او مسلم ۱۴۵۱ حديث د هغه له قوله را نقلوي چي د ابو قتاده له حديث سره، چي وايی پيغمبرص ته يې درې ځله اوبه ورکړه چي له اوبښ څخه ونه لويږي، ډېر عجيب توپير لري. په داسي حال کي چي دواړه کسان په يوه پېښه کي حاضر ول او د دواړو نکل بايد يو ډول وای:

عِمران بن حسين وايي« موږ ټوله شپه له پيغمبرص سره يو ځای سفر وکړ او سهار ته نيژدې مو په يوه ځای کي دمه وکړه. سهار لمر را ختلی وو چي موږ را ويښ سوو. په موږ کي ابوبکر تر ټولو لومړی را ويښ سو. موږ پيغمبرص را ويښ نه کړ څو هغه پخپله را ويښ سي. وروسته عمر را ويښ سو. هغه د پيغمبرص څنګ ته ودرېدی او په لوړ آواز يې تکبير ووايه او پيغمبرص هم له خوبه را پاڅېد؛ او حرکت مو پيل کړ. يو څه وخت وروسته، چي لمر ښه را وخوت، پيغمبرص موږ ته لمونځ راکړ... وروسته يې ماته وظيفه راکړه چي مخکي سه او وګوره چي اوبه چيري دي. موږ په لاره کي يوه ښځه وليده چي پر اوبښ باندي سپره وه او دوه له اوبو ډک ژي(مشک) يې پر اوبښ بار کړي ول. موږ له هغې ښځي څخه پوښتنه وکړه چي اوبه څومره ليري دي. هغې راته وويل چي تاسي اوبو ته نه سی رسېدلای ځکه چي زموږ له کورڅخه تر اوبو پوري د يوې شپې او ورځي مزل دی. موږ ورته وويل چي ته د الله پيغمبرص ته ورسه هغې وويل د الله پيغمبر څوک دی؟ موږ هغه پيغمبرص ته راوستله او کله چي هغه د اوبو په باره کي سوال ورڅخه وکړ نو دې هغه جواب ورکړ لکه موږ ته چي يې راکړی وو. دې وويل چي کونډه ده او يتيمان لري. پيغمبر د هغې ښځي له اوبښ څخه د اوبو مشکونه را کښته کړل. او موږ څلوېښتو کسانو هغه اوبه وڅښلې. وروسته مو د هغې له مشکونو څخه خپل مشکونه ډک کړل او د هغې مشکونه مو هم بيرته ډک ورتسليم کړل... » هغه کتاب حديث ۱۴۵۱

زيات وکم يوه مياشت مخکي مي په يوه تلوېزيوني پروګرام کي له يوه مُلا څخه، چي خلکو ته يې وعظ کاوه، واورېدل چي له حضرت پيغمبرص سره صحابه ملګري ول او په دښت کي له ډيري سختي ګرمۍ سره مخامخ سول او نيژدې وو چي ټول هلاک سي. حضرت پيغمبر خپلي ګوتي خلاصي کړې او د لاسونو له لسو ګوتو څخه يې اوبه جاري سوې( ملاصاحب له ګوتو څخه د اوبو د راوتلو جريان شاه لوله وبلله) او ټول اصحاب يې اوبه کړل.

اوس به نو په دې احاديثو کي سړی کوم يو مني؟ او که سړی، د يوه سُنی په حيث، د ټولو احاديثو منلو ته مجبور دی؟ ابوهريره خو ځکه دروغ وايي چي دا کيسه د خيبر په جنګ پوري اړه لري او ابوهريره د خيبر د جنګ په وخت کي مسلمان سوی لا نه وو او کله چي حضرت پيغمبرص له خيبر څخه مدينې ته ستون سو ابوهريره مسلمان سو.

ابوقتاده وايی ما حضرت پيغمبر ته درې ځله اوبه ورکړه او له اوبښ څخه له لوېدلو مي را وګرځاوه. وروسته مي سهار پيغمبرص ته له خپلي کوزې څخه د اودس کولو اوبه ورکړې او پيغمبرص له هغې کوزې څخه ټول لښکر اوبه کړ.

عمران بن حسين ادعا کوي چي هغه هم په دغه جنګ او حادثه کي حاضر وو خو نکل يې له هره پلوه له ابوقتاده سره توپير لري. د هغه په روايت کي نه د بلال آذان موجود دی. نه د ابوقتاده کوزه سته؛ بلکه له يوې کونډې ښځي څخه د اوبو مشکونه اخيستل کيږي او ټول لښکرته اوبه ورکوي؛ اصحاب هم خپل مشکونه ورڅخه ډکوي او د ښځي مشکونه هم بيرته ډک ورسپارل کيږي. د ملاصاحب د شاه لولې کيسه خو لا ما په کتاب کي نه ده لوستې؛ خو حتماً به ده هم د احاديثو په کوم کتاب کي ليدلې وي. سړی به دا احاديث ټول مني؟

هغسي چي موږ اورېدلي او په کتابونو کي لوستي دي نو امام بخاری او امام مسلم، هغسی چي ويل کيږي د احاديثو په انتخابولو او ليکلو کی يې له ډېر احتياط څخه کار اخيستی، چنداني محتاط خلک نه ول کنه نو دا څلور، له يوه بل سره مخالف، حديثونه يې څرنګه په خپل کتاب کی ليکل. هغه ته په کار وه چي په دې احاديثو کي يو انتخاب کړي او نور وغورځوي او يا څلور واړه وغورځوي.

د حضرت رسول ص د سينې د څيرل کېدلو په باب احاديث:

د دې پيښيي په باره کي څو مختلف احاديث موجود دي چي ځيني يې يو له بله په هيڅ صورت نه لګيږي او په لوستلو ارزي. د صحيح مسلم په ۳۱۱ حديث کي راغلي دي:

انس بن مالک ويلي دي چي «جبرئيل په داسي حال کي حضرت رسول ص ته راغی چي هغه له نورو هلکانو سره لوبي کولې. ( يعني ماشوم وو جهاني) جبرئيل آنحضرت ص پر مځکه پرې ايستی د هغه سينه يې ورڅيري کړه. د هغه زړه يې را وايستی او له زړه څخه يې توره وينه را وايستل او وې ويل چي دا ستا په وجود کي د شيطان برخه وه. وروسته يې د آنحضرت ص زړه، په يوه طلايی لګن کي، د زم زم په اوبو، پرې مينځی او بيرته يې زړه په سينه کي ور کښېښود او سينه يې روغه سوه. هلکانو په يوه منډه د آنحضرت مور يا دايي ته ور وځغستل او هغې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ته يې وويل چي محمدص ووژل سو. دوی ټولو د هغه خواته ور وځغستل او ويې ليدل چي هغه جوړ تيار دی او رنګ يې تغيير کړی وو. انس بن مالک وايی ما پخپلو سترګو د آنحضرت ص پر سينه باندي د ستني نښانونه وليدل.»( يعني د آنحضرت سينه ګنډله سوې وه. جهاني)
پخپله همدغه انس بن مالک د مسلم په ۳۱۴ حديث کي د مالک بن شعشع له قوله وايی چي« حضرت پيغمبر ويلي دي چي زه کعبې ته نيژدې، د خوب او ويښي ترمنځ حالت کي، پروت وم. يو ږغ مي واورېدی چي ويل يې دی د دوو تنو په منځ کي هغه دريم سړی دی؟ وروسته نو هغه زما خواته راغی زه يې ورسره يووړم. بيا يې نو يو طلايی لګن، چي د زمزم له اوبو ډک وو، راووړ او زما زړه يې را وايستی او د زمزم په اوبو يې ومينځی او بيرته يې پر خپل ځای کښېښود. وروسته يې ماته يو حيوان راووست چي بُراق نومېدی؛ تر خره غټ او تر يابو کوچنی وو. زه يې پر هغه حيوان باندي سپور کړم؛ څو چي لومړي اسمان ته ورسېدلو....»
په ۳۱۳ حديث کي، همدغه انس بن مالک، د ابوذر له قوله وايی چي « حضرت رسول ص وويل، کله چي زه په مکه کي وم، زما د کور چت چاک سو. جبرئيل را کښته سو او د سرو زرو لګن يې، چي د عقل او ايمان څخه ډک وو، زما په سينه کي خالي کړ او زما سينه يې بيرته بنده کړه. ...»
همدغه انس بن مالک، په ۳۰۹ حديث کي د حضرت پيغمبر ص له قوله وايي « ماته يې يو سپين حيوان راووست چي تر خره غټ او تر يابو کوچنی وو هر قدم يې له بل څخه د سترګو د ديد په اندازه فاصله درلوده. زه پر هغه باندي سپور سوم او بيت المقدِس ته ورسېدلو. ما په جومات کي دوه رکعته لمونځ وکړ او جبرائيل ماته دوه لوښي راوړل چي يو د شرابو او بل د شيدو څخه ډک وو. ما شيدې انتخاب کړې او جبراييل راته وويل چي ډېر ښه انتخاب دي وکړ....»
ابوهُريره د همدغه صحيح مسلم په ۳۲۲ حديث کي د حضرت رسول ص له قوله وايي چي « له موسی ع څخه وروسته مي ابراهيم ع وليدی او زه د هغه په اولاد کي تر ټولو ورته مشابه وم. جبراييل ماته دوه لوښی راوړل چي يو له شيدو او بل له شرابو ډک وو. ما د شيدو لوښی انتخاب کړ او شيدې مي وڅښلې. جبراييل راته وويل چي تا ښه انتخاب وکړ. که دي شراب انتخاب کړي وای نو ستا امت به ګمراه سوی وای.»
اوس نو انس بن مالک په يوه حديث کي وايي چي حضرت رسول مبا رک ماشوم وو او له نورو ماشومانو سره يې لوبې کولې چي جبراييل راغی او د هغه سينه يې ورځيري کړه. په بل حديث کي پخپله انس بن مالک وايی چي حضرت رسول ص د مکې په جومات کي ويده وو او جبراييل راغی سينه يې ور څيره کړه. په بل حديث کي د حضرت رسول له قوله ويل سوي دي چي جبراييل زما د خوني چت چاک کړ او خوني ته داخل سو. زما سينه يې را څيره کړه او د عقل او ايمان څخه يې را ډکه کړه او زما سينه يې بيرته روغه کړه.
همدغه يوه پېښه يو ځل د حضرت پيغمر په ماشومتوب کي، بل ځل د مکې په جومات کي او بل ځل پخپله د حضرت پيغمبرص په خپل کورکي منځته راځي. سينه يې څيرل کيږي او د عقل او ايمان له اوبو څخه ډکيږي. حتی انس بن مالک خو په مبالغه کي دومره مخته ځي چي وايی ما د حضرت پيغمبر پر سينه باندي د ستني ټکان وليدل.
انس بن مالک په ۳۰۹ حديث کي وايي چي حضرت پيغمبر بيت المقدِس ته ولاړ. دوه رکعته لمونځ يې وکړ او جبراييل د شرابو او شيدو دوه لوښي ورته راوړل. خو ابوهُريره په ۳۲۲ حديث کي وايی چي جبراييل په اووم اسمان کي حضرت پيغمبرص ته د شرابو او شيدو لوښي راوړل.
اووم اسمان ځکه يادوو چي حضرت رسول ص ته د حضرت ابراهيم ع له ليدلو څخه وروسته دوه لوښی راوړل سوي دي. او حضرت پيغمبرص د انس بن مالک د ۳۰۹ حديث په حواله وايی چي « ابراهيم ع مي په اووم اسمان کي وليدی چي بيت المعمور ته يې څنګ اچولی وو. بيت المعمور ته هره ورځ ۷۰ زره فرشتې ننوزي او بله ورځ هغه فرشتې نه ورته راځي. وروسته نو زه سِدرة المنتهی ته يوړل سوم. دا يوه ونه ده چي پاڼي يې د پيل د غوږونو په شان لويې دي او مېوه يې دونه غټه ده لکه زموږ خاورين لوښي. او کله چي د خدای په حکم هغه وپوښل سوه نو داسي تغيير پکښي راغی چي هيڅ بشر د هغه د ښکلا توصيف نه سي کولای.»
اوس نو انس بن مالک وايی حضرت پيغمبرص ته په بيت المقدِس کي د شرابو او شيدو لوښي راوړل سول او ابوهُريره همدغه دوه لوښي په اووم اسمان کي ګوري. سړی به په دوو معتبرو احاديثو کي په کوم يوه باورکوي؟
د حضرت رسول اکرم ص د سينې د څيرېدلو او بيرته ګنډلو په ارتباط مختلف او يو د بل نقضوونکي احاديث او افسانې زياتره د « شَرَحَ» د کلمې له تلواري او بې احتياطه ترجمې څخه را پيدا سوي دي. دا چي حق متعال، خپل پيغمبرص ته وايي:

الم نشرح لک صدرک: سورة ۹۴ آية ۱
آيا ستاسينه مو درته خلاصه نه کړه؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

و وضعنا عنک وزرک. الذی انقض ظهرک. هغه سورة ۲ او ۳ آیتونه.
او ستا څخه مو هغه بار لیري کړ چی ستا ملا یې کږه کړې وه. تفسیرکابلي.
محدثینو د شَرَحَ د کلمي لومړنۍ معنا اخیستې ده چي څیرل، شق شق کول او ټوټه ټوټه کول او... معنی ورکوي. او پر دغه اساس یې خپل ټول نقلونه بناء کړي دي. خو دوهمه معنا یې چي هغه د پراخولو او خلاصولو او تشریح کولو معنا ورکوي هغه یې نه ده اخیستې. کله چي موسی ع ته امر کیږي چي ته فرعون ته ورسه چي بغاوت یې کړی دی. سورة ۲۰ آیة ۲۴
نو حضرت موسی ص الله تعالی ته وایی چي ربِّی اشرح لي صدري آیة ۲۵
و یسِّرلي امري. ۲۶ و اَحلُل عُقدةً من لساني ۲۷
ترجمه: اې زما ربه سینه مي را پراخه کړه. کار مي راته آسان کړه. و له ژبي څخه مي لکنت( په خوله کي بندېدل) لیري کړه.
د موسی ع طبعاً دا مطلب نه وو چي سینه مي را څیري کړه. ځکه چي د سینې له څیرېدلو څخه هیڅ شی نه جوړېدل. دلته او د الانشراح په سورة کي د سیني له شرح څخه مطلب د سینې پرخوال دي.
حق متعال د خپل پیغمبر په سینه کي د عقل او ایمان د ایښودلو لپاره جراحي ته ضرورت درلود؟ هغه د بل کوم پیغمبر سینه هم ورڅیرلې او ایمان او عقل یې پکښي ایښی وو؟ ابداً نه. ځکه لکه څرنګه چي د حق متعال ذات قدیم دی دغه راز یې علم هم لایتناهي او قدیم دی. هغه خپل پیغمبران په ازل کي ټاکلي ول. باري تعالی ته خپل پیغمبر په ازل کي معلوم وو. دا څرنګه امکان لري او څرنګه یې عقل مني چي حضرت رسول ص ته دي براق را وستل سي. هغه د معراج سفر پیل کړي او بیا دي هم یا په بیت المقدس او یا د ابوهریره په قول په اووم اسمان کي هغه د شرابو او شیدو د لوښو په انتخاب آزمېیل کیږي؟
امام مسلم ته په کاروه چي د معراج په باره کي د احادیثو د نقلولو په برخه کي یې له احتیاط څخه کار اخیستی وای او د یوې اساسي موضوع په باره کي ۱۸ یو د بل نقیض او مخالف احادیث یې نه وای نقل کړي. سړی نه بوهیږي چي پخپله امام مسلم ته، د یوه لوی عالم په حیث، څرنګه هیڅ سوال نه پیدا کېدی.
د معراج په قصه کي، په ۳۰۹ حدیث کي سدرة المنتهی په اووم اسمان کي بولي او په ۳۲۳ حدیث کي، د عبدالله بن عمر له قوله وایي چي سدرةالمنتهی ونه په شپږم اسمان کي ده. هلته هر شی چي له مځکي څخه اسمانونو ته پورته کیږي ختمیږي او هلته تم کیږي. او هرشی چي له پورته څخه ورته راځي دلته ختمیږي او تم کیږي.
امام مسلم د احادیثو په جمع کولو او سره کولو کي له احتیاط څخه په کار اخیستلو مشهور دی او ځکه یې له ۶۰۰ زرو احادیثو څخه څه باندي ۷ زره انتخاب کړل؛ مګر دې خبري ته متوجه نه وو چي د یوې ټاکلې قضیې یا یوه ټاکلي شي په برخه کي ولي څو موجود حدیثونه واخلي ځکه چي دا خو که د خلکو د ګمراهی سبب نه سي نو لږترلږه شکونه خو ورته پیدا کیږي.
تر دې ټولو خبرو چي را تیر سو نو باید ووایو چي عقل او ایمان په زړه او سینه کي نه بلکه په سر کي قرار لري. او که چیري دا خبره ومنو چي جبرییل ته وظیفه ورکړه سوې وه چي عقل او ایمان د حضرت پیغمبر ص په سینه کي ځای کړي؛ نو جبرییل چي، د خدای په اراده، دونه زور درلود چي په یوه ګړي کي د حضرت پیغمبر په سینه کي عقل او ایمان ځای کړي نو هغه بیا د هغه پر سینه باندي د انس بن مالک د لیدلو لپاره د ستني د ټکانو نښی نه پرېښودلې.

د لیکوال آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۲/۱۰/۲۴

# احادیث

## تول احادیث باید ومنل سي؟

پنځمه برخه

سره له هغه چې احادیث، په تېره بیا صحیحین یا بخاری او مسلم، د اسلام ډېرو لویو عالمانو ، په ډېر احتیاط، را جمع کړي او له جعلي او مشکوکو احادیثو څخه یې د صحیح او موثقو احادیثو د بېلولو لپاره تر لسو کالو پورې زحمتونه ایستلي دي خو په دې دواړو کتابونو کې ډېر داسې احادیث راغلي دي چې نه له واقعیتونو، نه له تاریخي حقیقتونو او نه له عقل سره لګیږي. د مثال په ډول د صحیح مسلم ۱۲۷۵ حدیث را اخلو:
دا حدیث، د لمانځه د وختونو په باره کې، د عبدالله بن عمرو له خولې نقل سوی دی او د سهار د لمانځه په باره کې د حضرت رسول اکرم له قوله وایي: «د سهار د لمانځه وخت د سپده داغ څخه نیولې تر لمرخاته پورې دی. مګر کله چې لمر را پورته کیږي په دغه وخت کې سجده مه کوی؛ ځکه چې لمر د شیطان په ښکرونو کې را پورته کیږي»
دا حدیث، د شمسی نظام په برخه کې، له عصري حقیقت سره اړخ نه لګوي ځکه چې لمر راپورته کیږي نه بلکه ځمکه پر خپل مدار باندې را څرخي او شپه او ورځ ورڅخه پیدا کیږي. ځمکه د لمر پرشاوخوا باندې را ګرځي او څلور موسمه ورڅخه پیدا کیږي. لمر له هیڅ لوري نه راپورته کیږي چې شیطان یې په ښکرونو کې ونیسي.
او که چیرې دا ومنو چې لمر د شیطان په ښکرونو کې را پورته کیږي نو لمر خو تر ځمکې ۳۳۰ زره واره لوی دی. شیطان چې لمر په ښکرونو کې نیسي باید چې لرترلږه د لمر پنځه چنده جسامت ولري او په دې حساب باید څه باندې یونیم میلیون واره تر ځمکې لوی وي. په دې حساب خو انسان هغه ته د اتوم تر ذرې هم وړوکی دی. بیا نو څرنګه هغه، په دومره لوی جسامت، د انسان په وینو کې ځای نیسي او هغه د سمې لارې څخه اړوي او حتی څرنګه یې ویني.
کله چې د آذان او یا د لمانځه لپاره د اِقامة آواز پورته کیږي نو همدغه شیطان دومره وارخطاکیږي چې، په هغه حدیث کې چې د ابوسفیان له قوله نقل سوی او هغه د جابر له قوله نقل کوي، له مدینې څخه د شپږدېرش میله په اندازه په تاخت ځغلي. مسلم احادیث ۷۵۱ او ابوهریره، د همدغه حدیث په تایید کې، پخپله د پیغمبرص له قوله وایي چې کله شیطان د آذان ږغ واوري نو ځغلي او ګوزونه اچوي او چې آذان ختم سي هغه بیرته راستون سي. کله چې د لمانځه لپاره د اقامة ږغ واوري نو بیا ځغلي او ګوزونه اچوي. او کله چې اقامة ختم سي نو بیرته راستون سي. حدیث ۷۵۳ او حدیث ۷۵۶
د شیطان دومره لوی والی، چې لمر په ښکرونو کې پورته کوي، او دمځکې یم نیم میلیون واره لوی والی لري او د ا وروستی خبرې په هیڅ صورت نه سره لګیږي او ضمناً باید امام مسلم دا احادیث له سره ذکر کړي نه وای او که یې لیکلای نو باید چې د ابوهُریره ادبیات یې اصلاح کړي وای.
یا مثلاً د بخاري ۵۳۶ او ۵۳۷ حدیث وایي«علی بن عبدالله د سُفیان او هغه د الزُهری، هغه د سعید بن المسیب او هغه د ابوهُریره له قوله وایی چې حضرت پیغمبرص وویل چې د دوبي په ډېره ګرمه ورځ خپل د ماپښین لمونځونه وځنډوی ځکه چې د دوبي سخته ګرمي د دوږخ له اوره ده. د دوږخ اور خپل خالق ته شکایت وکړ چې زما د وجود برخې له یوې بلې سره خوري او سره تباه کوي. نو الله ج دوږخ ته اجازه ورکړه چې یو ځل په ژمي او یو ځل په دوبي کې تنفس وکړي. کله چې هغه په دوبي کې ساه کاږي نو تاسي سخته ګرمي احساسوی او کله چې هغه په ژمي کې ساه کاږي نو تاسي د ژمي یخني احساسوی»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

داچي دا پورتنی حدیث به په پنځه شپږ ځله لاس پرلاس کېدلو کي څومره تغییر کړی وي او یا به ریشتیا هم حدیث وي کنه زه څه نه سم ویلای؛ خو دونه هر څوک ویلای سي او دا یو څرګند حقیقت دی چي څلور موسمونه، لکه پورته چي مو وویل د لمر پر شاوخوا باندي د مځکي له ګرځېدلو څخه پیدا کیږي. هغه هیوادونه چي د استوا پر کرښه یا استوا خط ته نیژدې پراته دي او د لمر وړانګي په نسبتاً مستقیم ډول ورته رسیږي ډېر تاوده او چي د استوا له خط څخه پورته او کښته واقع وي یا معتدل او یا ساړه وي. دلته د دوږخ د تنفس سوال چنداني نه پیدا کیږي. په انګلیسي متن کي د دوږخ د سړې برخي ذکر نه دی راغلی او په عربي متن کي الزمهریر یا سوړ دوږخ راغلی دی چي له تنفس څخه یې ژمی پیدا کیږي.
ځینی احادیث دي چي چنداني د منلو نه دي او سړی دا نه سي منلای چي ګوندي حضرت پیغمبرص به هم داسي اظهارات کړي وي. د مثال په توګه: د صحیح مسلم ۶۷۱۰ حدیث:
«ابوالسعید خُدري وایي چي حضرت پغمبرص وویل چي د محشر په ورځ به ټوله مځکه یوه ډوډۍ سي او حق متعال ج به هغه ډوډۍ داسي په لاس کي واخلي لکه تاسي چي په سفر کي یوه ټوټه ډوډۍ په لاس کي نیسی. دا به د جنتیانو په افتخار یوه مېلمستیا وي. په دغه وخت کي یو یهود راغی او حضرت پیغمبرص ته یې ویل چي یا ابوالقاسم! رحیم خدای دي ستا څخه راضي سي! زه د هغي ورځي د مېلمستیا په باره کي، چي د جنتیانو لپاره به ترتیب سوې وي نور معلومات درکړم؟ حضرت پیغمبرص ورته وویل چي هو ولي نه. هغه یهود وویل چي په هغه ورځ به مځکه یوه ډوډۍ سي. حضرت پیغمبرص موږ ته وکتل او داسي په کړس یې وخندل چي د زامي غاښونه یې ښکاره سول. یهود وویل دا هم درته ووایم چي له ډوډۍ سره به څشي ملګري وي؟ حضرت پیغمبرص ورته وویل هو وایه. یهود وویل له ډوډۍ سره به بالام ملګری وي. اصحابو پوښتنه وکړه چي بالام څشي وي؟ یهود وویل بالام غویی او ماهی دی چي د هغوی اینه یا جګر به ۷۰ زره انسانان خوري او ټول به مړیږي»
لومړی خو حق متعال ته، چي ذات یې بلا کیف دی او که لاس ولري هغه بلا کیف دی، په لاس کي د ډوډۍ نیول د هغه له ذات سره نه جوړیږي. ورپسې، د حضرت رب الجلیل له لوري د قیامت په ورځ، پر سپین میدان، دسترخوان غوړول او د مځکي په اندازه ډوډۍ جوړول او مېلمستیا کول د رب الجلیل له ذات څخه د بېخبری معنا لري او د هغه ذات مقام، نعوذبالله، د یوه لوی خان مقام ته را ټیټوي. له بلي خوا پخپله حدیث وایي چي دا معلومات د یوه لاروي یهود له قوله نقل سوي دي. په داسي حال کي چي په تورات کي، چي باید د یهودي د معلوماتو منبع وای، دې خبري او دې ته ورته خبري ته اشاره قدر نسته. یهود لاروی څوک دی چي حضرت پیغمبرص، د خپل ټول علمیت سره، د هغه په خبره اعتبار وکړي او امام مسلم بیا دا کیسه د حدیث په شکل راوړي؟
همدغه ابوسعید الخدري د صحیح مسلم په ۶۸۲۷ حدیث کي د حضرت پیغمبرص له قوله وایي « د محشر په ورځ به مرګ د یوه لوی ښکرور سپین پسه په شکل را وستل سي. بیا به نو هغه د جنت او دوږخ تر منځ ودرول سي او له جنتیانو څخه به پوښتنه وسي چي تاسي دا پیژنی؟ هغوی ټول به غاړي اوږدې کړي. پسه به ویني او ټول به ووایی چي بلې دا مرګ دی. وروسته به له دوږخیانو څخه پوښتنه وسي چي دا پیژنی؟ هغوی به هم ووایی چي بلې دا مرګ دی. وروسته به نو د هغه د حلالولو امر وسي او بیا به ږغ وسي: اې د جنت خاوندانو مرګ له منځه ولاړی او تاسي به د تل لپاره په جنت کي اوسېږی. بیا به دوږخیانو ته وویل سي چي اې د دوږخ خاوندانو ستاسي لپاره مرګ نسته او د تل لپاره به په دوږخ کي اوسی.»
دا چي مرګ پخپله څشي دی او، د سپین پسه په څېر، خارجي وجود لري کنه؛ په دې باره کي دلته بحث نه کوو مګر دونه، په یقین سره، ویلای سو چي الله متعال د دوږخیانو او د جنتیانو د ژوند د دایمي کولو او هغوی ته په دې خبري د قناعت ورکولو لپاره دلیل او اثبات ته ضرورت نه لري. هغه قادرمطلق دی. له هغه څخه نه څوک شاهد غواړي او نه یې د غوښتلو توان لري. حق متعال، نعوذبالله، صحنه سازی ته هیڅ ضرورت نه لري. دا صحنه سازي، په حقیقت کي، د هغو کسانو د ذهن محصول ده چي غوښتل یې خپل ځانونه تر نورو خبر او عالم وښیي او د امام مسلم لپاره لازمه وه چي دا حدیث یې هم، د نورو جعلي احادیثو په څېر، ایسته غورځولی او د نقلولو ارزښت یې نه وای ورکړی.
ځیني احادیث د تاریخي واقعیتونو سره په هیڅ صورت نه لګیږي او سړی ویلای سي چي دا باید حتماً جعل سوي وي. مثلاً د صحیح مسلم ۶۹۷۹ حدیث د ابوهریره له قوله راغلی دی او د حضرت پیغمبر له قوله وایي چي «تر هغه وخته به قیامت نه سي چي ۷۰ زره یهودان د قسطنطنیې(استانبول) پر ښار باندي حمله ونه کړي. کله چي دوی هلته ورسیږي نو دوی به نه په وسلو جنګ کوي او نه به پر هغه ښار باندي غشي اوروي بلکه ټول یهودان به ووایی چي پرته له الله بل خدای نسته او الله اکبر. په دې توګه به د ښار یوه خوا ونړیږي. دوی به بیا ووایی چي پرته له الله بل خدای نسته او الله اکبر. په دې توګه به د ښار بله خوا ونړیږي. دوی به بیا ووایي چي له الله پرته بل خدای نسته او د ښار دروازې به ورته خلاصي سي. دوی به ښار ته ننوزي او د غنیمتونو او مالونو په چورولو به


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پيل وکړي. په دې وخت کې به بړغ وسي چې دجال راغی! په دې وخت کې به دوی ټول شيان پرېږدي او په دجال به پسې سي.»
داچې يهودان به استانبول نيسي هغه د وخت خبره ده خو دا چې هغوی به دغه ښار په لااله الا الله او د الله اکبر په ناره نيسي دا ځکه د تأمل وړ خبره ده چې استانبول به يو وخت د عيسويانو ښار وو مګر اوس خو د مسلمانانو ښار او د يوه اسلامي مملکت پايتخت دی. په کار خو دا ده چې ترکان د الله اکبر په چيغه بيت المقدِس ونيسي نه دا چې يهودان د هغوی پايتخت د الله اکبر په چيغه فتح کړي. له بلې خوا د استانبول ښار يو وخت، د نورو مهمو او لويو ښارونو او نظامي مرکزونو په څېر ديوالونه او قلا درلوده. هغه ښار قلا نه لري چې د الله اکبر په ناره يې ديوالونه ونړيږي او نه هغه ښار دروازې لري چې يهودان د هغو له لارې ښار ته ننوزي.
امام مسلم د عبدالله بن عمر له قوله ۶۹۸۱ حديث راوړي او وايي چې پيغمبرص وويل چې مسلمانان به تر هغه وخته پوري له يهودانو سره جنګ وکړي چې تر څو پوري يو يهود ژوندی پاته نه سي او بالاخره به يوه لويه ډبره مسلمانانو ته ور بړغ کړي چې راسی زما ترشا يهود پټ سوی دی هغه مړ کړی.
دا حديث ځکه د بشپړ تأمل وړ دی چې که حضرت پيغمبرص، د يهودانو د قتلولو په برخه کې، داسي حکم صادر کړی وای نو عمربن خطاب چې پخپله بيت المقدِس فتح کړ. د يهودانو خاوري ته ورغی خو يو يهود يې ونه واژه. عمر بن خطاب به هيڅ وخت د حضرت پيغمبر له امر څخه سرغړونه کړې نه وای. او له دې فتح څخه وروسته تر صليبی جنګونو پوري څه باندي ۷۰۰ کاله د يهودو د خاوري ټول واک د مسلمانانو په لاس کې وو مګر هيڅ مسلمان د يوه يهود وينې په ناحقه توی نه کړې. يهودو د اسلامي خلافت تر سيوري لاندي، په سوله کې ژوند کاوه، د عادي رعاياو په څېر يې ماليه او جزئيه ورکوله او سراومال يې په امن کې وو. په څرګنده ښکاري چې دا حديث بايد جعل سوی وي. که دا حديث موجود وای نو مسلمانانو، په تېره بيا عمر بن خطاب، به د يهودانو عام قتل د آخرة او قيامت ورځي ته نه وای معطل کړی او مسلمانانو به پر هغوی باندي د څه د پاسه ۷۰۰ کلونو مطلق حاکميت په وخت کې، لږترلږه د هغوی په خاوره کې، د هغوی ريښه ور ايستلې وای.
دغه راز د قيامت يا د دنيا د وروستی ورځي په باره کې چې په صحيح مسلم کې کوم احاديث راغلي دي هغه د واقعيت سره نه لګيږي. مثلاً د انس بن مالک له خولي يو حديث نقل سوی دی چې همدغه حديث، په يوه سلسله عايشي، او په بله سلسله ابوهُريره ته رسيږي او انس بن مالک وايی يوه سړي له حضرت پيغمبرص څخه سوال وکړ چې قيامت يا ورستی ساعت به کله وي؟ حضرت پيغمبر يو ګړی خاموش وو او بيا يې يوه هلک ته لاس ونيوی او وې ويل چې که دغه هلک ژوند وکړي نو هغه به لا زوړ سوی نه وي چې قيامت به را ورسيږي. انس بن مالک وايی ماچي هغه هلک ته وکتل د هغه عمر زما سره برابر وو. مسلم احاديث ۷۰۵۲
همدغه حديث په لږ توپير د نورو کسانو له قوله هم نقل سوی دی. اوس نو دغه ګړی ۲۰۲۲ م د حضرت رسول ص له وفات ۶۳۲ م څخه څه کم ۱۴۰۰ کاله تېر سوي دي او د هغه هلک په عمر، چې حضرت پيغمبرص اشاره ورته کړې وه لږترلږه ۵۰۰ ځله هلکان زاړه سوي او وفات سوي دي او لا معلومه نه ده چې قيامت به کله راځي.
د صحيح مسلم د احاديثو په کتاب کې له ۷۰۴۳ څخه تر ۷۰۴۹ پوري، چې د نقل سلسله يې مختلفو منابعو ته رسيږي، راغلي دي چې حضرت پيغمبرص وويل چې زه او قيامت لکه زما د لاس دوې يا درې ګوتې نيژدې سره راغلي يو. البته د دې خبرو، لکه مخکې چې مو وويل څه کم څوارلس سوه کاله (۱۳۹۰) کلونه تېر سوي دي او لا قيامت نه دی راغلی. په هغو احاديثو کې چې په عين موضوع کې راغلي دي له اختلاف څخه څرګنديږي چې د امام بخاري تر زماني پوري، چې څه کم ۲۵۰ کلونه کيږي، په عباراتو او حتی مفاهيمو کې بايد تغييرات راغلي او حتی ډېر احاديث بايد جعل سوي وي؛ چې له بده مرغه نه امام بخاري نه امام مسلم او نه نورو محدثينو لازمه توجه ورته کړې ده. که نور هيڅ نه وه نو امام بخاري ته معلومه وه چې پر دې حديث باندي، که په ريشتيا هم موجود وو، څه کم ۲۵۰ کاله اوښتي او قيامت لا نه دی راغلی نو په کار وه چې دا حديث يې له سره اخيستی نه وای.
ـــ په اکثرو احاديثو کې راغلي دي چې څوک خدای يو بولي هغه جنت ته ځي د صحيح مسلم ۳۶ حديث کې د عثمان بن عفان له قوله ويل سوي دي چې پيغمبرص وويل هر هغه څوک چې خدای يو بولي او مړ سي هغه جنت ته ځي.
د همدغه صحيح مسلم ۴۷ حديث د معاذ بن جبل له قوله نقل سوی دی او وايي چې حضرت رسول اکرم ص ماته وويل: «پر بنده باندي د حق متعال دا حق دی چې خدای ته به شريک نه نيسي او هغه به يو بولي او خدای هغه بنده ته سزا نه ورکوي چې خدای يو بولي. ما ورته وويل چې زه خلکو ته د دغه زيري د ورکولو حق لرم؟ حضرت پيغمبرص راته وويل چې خلکو ته دا زيری مه ورکوه ځکه چې بيا به هيڅ طاعت او عبادت نه کوي او يوازي به د خدای پر وحدانيت باندي اقرار کوي»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د صحیح مسلم ۶۶۶۵ حدیث د ابوموسی له قوله وایی چې حضرت پیغمبرص وویل کله چې د محشر ورځ را ورسیږي نو الله ج به هر مسلمان ته یو یهود یا عیسوی په لاس ورکړي او ورته وبه وایي چې دا له دوږخ څخه ستا نجات دی.
۶۶۶۶ حدیث د ابوبدره له قوله وایی چې ما له خپل پلار څخه واورېدل چې پیغمبرص وویل هیڅ مسلمان به تر هغه وخته مړ نه سي چې الله ج یې په عوض کې یو یهود یا یو عیسوي د دوږخ اورته ټاکلی نه وي. عمر بن عبدالعزیز د یوه لاشریک خدای په نوم درې ځله سوګند یاد کړ چې ده ته خپل پلار د حضرت پیغمبرص له قوله دغه پورتنی حدیث نقل کړی دی.
د مسلم ۵۰ حدیث د ابوهُریره څخه نقل سوی دی چې وایي «زه له پیغمبرص سره په باغ کې ناست وم هغه راته وویل چې ابوهریره زما څپلی درسره واخله او چې له باغ څخه بهر دي هر څوک ولیدل زېری ورکړه چې هر څوک د شهادت کلمه ووایی هغه به حتماً جنت ته ځي. کله چې زه له باغ څخه ووتلم نو لومړنی سړی چې مخي ته راغی عمربن خطاب وو. هغه پوښتنه راڅخه وکړه چې ابوهریره چیري روان یې؟ ما ورته وویل چې ځم خلکو ته دا زېری ورکوم. هغه زه پر سینه باندي دومره کلک ووهلم چې زه غوزار سوم او ماته یې وویل سمدستي بیرته وګرځه. کله چې زه باغ ته ولاړم حضرت پیغمبرص له عمر څخه پوښتنه وکړه چې ولي دي ابوهریره وواهه. هغه په جواب کي ورته وویل چې زما موراوپلار دي ستا قربان سي؛ که دا خلک خبر سي چې یوازي د شهادت د کلمي په مرسته جنت ته ځي نو له نور عبادت څخه به لاس واخلي...»
لومړی خو دا احادیث، د حضرت پیغمبرص او عمربن خطاب د غوښتني په خلاف، چې نه یې غوښتل ټول مسلمانان خبر سي، چاپ سول او تر موږ پوري را ورسېدل. اوس هر څوک پوهیږي چې که په دغو احادیثو باور وکړي نو یوازي د الله په واحد بللو او د شهادت د کلمي په ویلو جنت ته ځي.
مګر موږ وروسته ګورو چې حضرت علی د خپلو دښمنانو د وژلو لپاره احادیث جوړوي او خوارج، که څه هم مسلمانان دي او جنت یې، د پورتني حدیث په اساس، تضمین دی، منافقان بولي او مرګ یې، د حضرت پیغمبرپه امر، روا بولي. که موږ هغه احادیث چې یوازي د خدای پر یووالي باندي په ایمان لرلو او د شهادت د کلمي په ویلو د مسلمان جنت تضمینوي ومنو نو بیا خو د خوارجو د وژلو او له منځه وړلوپه برخه کي، چې هم خدای یو بولي، هم د شهادت کلمه وایي او هم یې لا قرآن شریف تر زیاترو مسلمانانو ښه زده وو، راغلي احادیث غلط دي او که د خوارجو په باره کي راغلي احادیث ومنو نو بیا به هغه، پرله پسي څو، احادیث څرنګه کیږي چې وایی څوک چې خدای یو بولي او یا د شهادت کلمه ووایی هغه به حتماً جنت ته ځي.
دا اصلاً د محدثینو وظیفه وه چې دا احادیث یې سم تصفیه کړي وای او خلکو ته یې د دغه راز سوالونو د پیدا کېدلو او لاري د ورکولو مخه نیولې وای. محدثینو خپله وظیفه سمه سرته نه ده رسولې. په بخاري او مسلم کي د خوارجو په باره کي داسي احادیث راغلي دي چې هغوی یې تقریباً له مرتدانو او یا له دین څخه د منکرو سویو کسانو سره یوشان بللي دي.
د بخاري ۶۹۳۳ حدیث وایي « یو وخت پیغمبرص خیراتونه وېشل او د عبدالله التمیمی په نوم یو څوک ورته راغی او حضرت پیغمبرص ته یې وویل چې انصاف به کوې. حضرت پیغمبرص ورته وویل لعنت دي وي پرتا باندي. چې زه انصاف ونه کړم نو څوک به یې کوي. عمر بن خطاب ویل اجازه راکړه چې سر یې پرې کړم. حضرت پیغمبرص ورته وویل پرې یې ږده هغه ملګري لري چې که ته خپل لمونځونه او روژې له هغوی سره مقایسه کړې نو ځان ته به دي خوا بده سي. خو دوی به له دین څخه لکه غشی چې خطا سي داسي ووزي... د دوی نخښه دا ده چې د مشر به یې یولاس لکه د ښځي سینه او یا لکه د غوښوټوټه داسي وي. دا خلک به په داسي وخت کي ظاهر سي چې د خلکو ترمنځ به اختلافات راغلي وي. ابوسعید زیاتوي زه شاهدي ورکوم چې دا خبره مي له پیغمبرص څخه واورېده او کله چې زه له علي سره ملګری وم هغه دغه کسان قتلول....»
دا حدیث د قران شریف له یو شمېر آیتونو سره تناقض لري چې په څرګنده وایي غیب یوازي حق متعال ته معلوم دي او بل څوک په خبر نه دي. د قرآن شریف د الانعام د سورة ۱۸۸ آیة وایی: ورته ووایه اې محمده چې زه، د الله له ارادي پرته، خپل ځانته نه ګټه او نه تاوان رسولای سم. او که زه په غیب خبروای نو خپل ځانته به مي ډېر خیر رسولای او هیڅ تاوان به نه راته رسېدلای. زه یوازي د مومنانو د خبرولو( وېرولو) او هغوی ته د زیري ورکولو مسوولیت لرم.
د سورة جن په ۲۶ آیة کي وایي: حق متعال په غیب خبر دی او بل هیچاته غیب نه څرګندوي.
د قرآن کریم د دومره څرګندو اظهاراتو سره به سړی هغه احادیث، چې څه کم ۲۵۰ کاله لاس پرلاس سوي وي، او پخپله له قرآن شریف سره ښکاره نقاضت ولري، او د پیغمبرص له خولې هغه غیب وایي چې حق متعال وایي یوازي زه په خبر یم، څرنګه ومني؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د صحيح مسلم له ۲۳۲۸ څخه تر ۲۳۳۸ پوري يوولس احاديث د خوارجو د وژلو په برخه كي دي او ټول د علی رض د قول تاييد كوي چي د خوارجو په جنګ وتلی وو. خوارج په لومړي سر كي په معاويه په مقابل كي د حضرت علي ډېر ټينګ ملګري ول او د معاويه او حضرت علي ترمنځ د صفين د جنګ له ختمېدلو او د دوی دوو ترمنځ د عمرو بن عاص او ابوموسی اشعري د حكم كېدلو په نتيجه كي هغوی د علي، معاويه او عمرو بن عاص ټولو سره مخالف سول ځكه چي دوی ويل حكميت د بنده ګانو سره نه دی بلكه حكميت بايد له خدای څخه وغوښتل سي او اصلي قاضی هغه دی. حضرت علي د هغوی په جنګ ور ووت او د هغوی د قتلولو لپاره يې د حضرت پيغمبر امر ته اشاره كوله.
عابده، چي ۲۳۳۱ حديث ورته منسوب دی، ښايي د خوارجو په مقابل كي د حضرت علي د اعلان د مشروعيت په باب شک درلود چي له حضرت علي څخه سوال كوي چي تا د خوارجو د قتلولو حكم پخپله له حضرت پيغمبرص څخه اورېدلی دی. حضرت علي ورته وويل هو! زما دي د كعبې په خدای قسم وي. هو! زما دي د كعبې په خدای قسم وي.هو! زما دي د كعبې په خدای قسم وي.
آيا دا امكان لري چي حضرت پيغمبر دي له يوې خوا خپلو امتيانو ته زېری وركړي چي څوک چي الله په وحدانيت پېژني او د شهادت كلمه ووايي د هغه جنت تضمين دی او له بلي خوا دي د هغو كسانو وينې مباح كړي چي په لمانځه، روژه او نورو فرايضو كي تر عادي مسلمانانو مخكي وي او قرآن شريف دي تر هغوی داسي ښه لولي چي د نورو مسلمانو به كست وربانديي كيږي؟
د خوارجو كيسه يوازي د سياسي اختلاف موضوع وه او كه تاريخ ته مراجعه وكړو نو حضرت علي د معاويه په مقابل كي هم د جهاد اعلان وكړ او خپلو ملګرو ته يې د غازي كېدلو او شهيد كېدلو په صورت كي د جنت وعدې وركولي. همدغه كار معاويه هم وكړ او خپلو پيروانو ته يې د علي له پيروانو سره د جنګېدلو په صورت كي د اُخروي نعمتونو وعدې وركولي. په داسي حال كي چي هم د علي او معاويه ترمنځ د صفين په جنګ او هم د علي او عايشې، طلحه او زبير ترمنځ د جمل په جنګ كي، له دواړو خواو څخه، څه باندي پنځوس زره مسلمانان قتل سول. هيڅ څوک په هيڅ صورت نه سي ويلای چي يا دعلي، يا د معاويه او يا د عايشې په صف كي كفار ولاړ ول او مرګ يې روا وو.
د حضرت علي او معاويه او د حضرت علي او عايشې ترمنځ هيڅ ډول مذهبي اختلافات موجود نه وه او ټول اختلاف د سياسي قدرت پر سر وو. قرآن شريف په عربي نازل سوی وو. ټول آيات يې ټولو اورېدلي او ايمان يې ورباندي راوړی وو. من قتل نفساً بغيرنفسٍ او فسادٍ فی الارض فَكَاَنَّما قتل الناس جميعاً و من احياها فكانما احياءالناس جميعاً... الآية
ترجمه: كه څوک يو سړی، پرته له دې چي هغه قتل كړی وي او يا پرمځكه باندي فساد جوړوي، قتل كړي؛ لكه ټول انسانان چي يې قتل كړي وي او كه څوک يوه سړي ته له قتلېدلو څخه نجات وركړي لكه ټولو انسانانو ته چي يې نجات وركړی وي. سورة ۵ آية ۳۲
طلحه بن عبيدالله او زبيربن عوام، چي د حضرت علي او عمربن خطاب په څېر په لسو منتخبو اصحابو يا عشره مبشره كي شامل ول؛ او په هغو لسو يوازينيو مسلمانانو كي ول چي، په ژوند كي، د جنت زېری ورباندي سوی وو؛ او د جمل په جنګ كي د عايشې په طرفداري وجنګېدل او قتل سول؛ معاويه، علي او عايشې او د هغوی پوځي مشرانو او مشاورينو ټولو ته دغه پورتنی قرآني حكم معلوم وو؛ خو هر يوه د خپل سياسي غرض لپاره پر مقابل لوري، چي پر مسلماني باندي يې هم شک نه درلود، توري را وايستلې. د خوارجو او د هغوی د نښانو په باب احاديث ټول د حضرت علی او خوارجو ترمنځ د جنګونو په وخت كي ايجاد سوي او حضرت پيغمبر ته منسوب سوي دي. كه داسي نه وای نو عابده، چي پخپله هم صحابي وو، څرنګه د حضرت پيغمبرص له وفات څخه زيات و كم ۲۵ كاله وروسته د خوارجو په باب حكم باندي نه وو خبر او حضرت علی يې درې ځله سوګند يادولو ته مجبور كړ.
كه يې داسي فرض كړو چي د خوارجو د قتلولومسله په احاديثو كي راغلي او د هغوی مرګ روا وو. نو معاويه خو صحابي وو، د هغه سياسي مشاور او سپه سالار عمرو بن عاص او د هغه بل مشهور قوماندان عبيدالله بن عمر بن خطاب خو صحابه ول او د قرآن كريم ټول احكام ورته معلوم ول. هغوی څرنګه د حضرت علي په مقابل كي لښكر تياركړ او حضرت علي څرنګه د عايشې او طلحه او زبير په مقابل كي او هغوی څرنګه د علي په مقابل كي وجنګېدل؟ په داسي حال كي چي ټولو، د قرآن شريف له حكم سره سم، د يوه مسلمان قتل د ټول جهان له قتل سره معادل باله.
دوي ټولو ته به يقيناً د صحيح بخاري دا ۴۸ نمبر حديث معلوم وو او هر يوه به څو څو ځله تكرار كړی هم وو چي «سِبابُ المسلمِ فُسوقٌ و قِتالُهُ كفر» مسلمان ته ښكنځل كول ګناه او له هغه سره جګړه كول كفر دی. دا، دغه راز، د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولــئ

صحیح مسلم ۱۲۲ حدیث دی چي د حضرت پیغمبر د کاتب، محدث او صحابی عبدالله بن مسعود له قوله نقل سوی دی. بیا به نو دې کسانو ځرنګه د یوه بل په مقابل کي جنګ جهاد باله او هر یوه به خپلو پیروانو ته د جنګېدلو په بدل کي د جنتونو وعدې ورکولې.
پاته لري

د لیکوال آرشیف


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۲/۱۰/۲۵

# احادیث

## ټول احادیث باید ومنل سي؟

شپږمه برخه

یوه مسله چي، په ورځني ژوند کي، د خلکو ژوند تر اغېز لاندي راولي هغه د حد موضوع ده. حد په لغت کي ټاکلي خط او مانع ته ويل کيږي او حدّاد يعني حد ساتونکی د پهره دار يا دروازه وان لپاره استعمالیږي؛ چي خلک تر دروازې ها خواته نه پرېږدي. مګر په شرعي لحاظ د سزا هغه اندازه ده چي، د ټاکلو ګناهونو لپاره، د حق متعال او يا حضرت رسول ص له خوا ټاکلي سوي دي. حق متعال د ګناهونو د سزا د اندازې په برخه کي د حدودو پر رعايت کولو باندي دونه ټينګار کوي چي له حدودو څخه تېري کوونکي ظالمان او حتی کافران بولي: و من يعصِ الله و رسولهُ و يتعدَّ حدودهُ يُدخِلهُ ناراً خلِداً فيها و لهُ عذابٌ مهين. سورة ۴ آية ۱۴
ترجمه: څوک چي د حق تعالی او د هغه د رسول نافرماني کوي او د هغوی له حدودو څخه تېری کوي؛ هغوی به تر ابده په دوږخ کي وي او توهينوونکی عذاب ورته ګوري.
په سورة بقرة کي وايی: ... و تِلک حدودالله فلا تعتدوها و من يتعدَّ حدودالله فأُولاءِک هُمُ الظالمون. سورة ۲ آية ۲۲۹
ترجمه: دغه د الله حدود دي او څوک چي د الله له حدودو څخه تېری کوی هغوی ظالمان دي.
حق متعال د قتل لپاره د قصاص سزا، د زنا لپاره ۱۰۰ دُرې، د غلا لپاره د لاس قطع کېدل او د لارو د نيوونکو لپاره د ښي لاس او کيڼي پښې قطع کېدل او... سزاوي ټاکلي دي. خو وروسته مذهبي عالمانو او ملايانو د ګناه کارانو لپاره سزاوي سختي کړي دي او هغوی ته يې د تعزير او يا د ځينو ضعيفو احاديثو په اساس نوي حدود ټاکلي دي.
پخپله حضرت رسول ص د حد په عملي کولو کي له بشپړ احتياط او حوصلې څخه کار اخيست. په صحيح مسلم کي له ۶۶۵۸ څخه تر ۶۶۶۱ پوري څلور احاديث راغلي دي او په ټولو کي دا يوه کيسه راغلې او تاييد سوې ده:
« ابوعثمان وايي چي موږ په جومات کي، له حضرت رسول ص سره ناست وو. يو سړی راغی او حضرت رسول ص ته يې وويل چي اې د الله پيغمبره ما داسي ګناه کړې ده چي بايد حد راباندي جاري کړه سي نو حد راباندي جاري کړه. په دغه وخت کي د لمانځه اقامة وويل سوه او حضرت رسول ص لمانخه ته ولاړ سو. ابوعثمان وايي ما هم حضرت رسول ص تعقيب کړ؛ څو پوه سم چي هغه د دغه سړي په باره کي څه فيصله کوي. هغه سړی بيا حضرت رسول ٌ ته ورغی ويل يې يا رسول الله ما داسي ګناه کړې ده چي بايد حد راباندي جاري سي نو حد راباندي جاري کړه. حضرت رسول ص ورته وويل چي ته له جومات څخه ووتلې او اودس دي وکړ. بيا دي زموږ سره لمونځ په جماعت وکړ. هغه سړي وويل بلې. حضرت رسول ص ورته وويل الله تعالی ته له حد څخه معاف کړی يې. مسلم احاديث ۶۶۶۱
شراب چښل ناروا دي؛ او په قرآن شريف کي هغه نجس کار او د شيطان عمل بلل سوی دی مګر د شرابو پر چښلو باندي نه په قرآن شريف کي د سزا يا حد يادونه سوې ده او نه حضرت رسول ص ټاکلی حد تعيين کړی دی. په دې برخه کي دومره احاديث نقل سوي دي چي موضوع يې ډېره پېچلې کړې او حتی مشکوکه کړې ده.
د صحيح بخاري ۶۷۷۳ حديث وايی حفص ين عمرد هشام او هغه د قتادة، قتادة د انس بن مالک له قوله وايي چي نبی ص هغه څوک چي شراب به يې چښلي وه د خرما په لښته او بوټونو واهه او صديق رض د شرابو چښلو حد څلوېښت درې يا شلاقي تعيين کړ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځير و لولــئ

۶۷۷۴ حدیث د نعیمان یا د نعیمان د زوی له قوله وایی چي یو سړی چي شراب یې څښلي وه حضرت رسول ص ته راوستل سو. حضرت رسول ص پر موږ امر وکړ چي ویې وهی. موږ ټولو هغه وواهه او زه هم یو له هغو کسانو څخه وم چي ومي واهه.
د بخاري ۶۶۷۵ حدیث د عُقبه بن الحارث له قوله وایی چي یو سړی چي شراب یې څښلي وه حضرت پیغمبر ته راوستل سو او هغه پر موږ امر وکړ چي ویې وهی. موږ ټولو هغه د خرما په لښتو او څپلیو وواهه.
د همدغه بخاری ۶۷۷۸ حدیث د علی بن ابی طالب له قوله وایي چي که یو څوک د حد د عملي کېدلو په وخت کي مړ سي زه به هیڅ خواشینی نه سم. مګر که څوک د شرابو د څښلو په ګناه د حد د چلېدلو په ترڅ کي مړ سي زه به د هغه سړي کورنی ته تاوان ورکوم ځکه چي پیغمبرص د شرابو لپاره حد نه دی ټاکلی.
د صحیح مسلم ۴۲۲۶ حدیث د انس بن مالک له قوله وایي چي یو سړی چي شراب یې څښلي وه حضرت پیغمبرص ته راوستل سو او هغه څلوېښت شلاقي وواهه. ابوبکر هم د شرابو د څښلو سزا په همدغه طریقه ورکوله. کله چي عُمررض خلیفه سو نو هغه د شرابو د سزا په برخه کي له خلکو سره سلا مشوره وکړه. عبدالرحمن بن عوف ورته وویل چي نرمه ترینه سزا باید ورکړه سي. عُمر وروسته د شرابو لپاره حد اتیا دُرې وټاکی.
خو د همدغه صحیح مسلم په ۴۲۳۲ حدیث کي علی بن ابی طالب، د شرابو د څښلو د حد په برخه کي هماغه خبره کوي چي په صحیح بخاري کي مو مثال ورکړ او ویلي یې وه چي د شرابو د څښلو لپاره حد نه دی ټاکل سوی.
صحیح النسایی خو په ۵۶۶۲ حدیث کي د ابوهریره له قوله وایي چي حضرت پیغمبرص وویل« هر څوک چي شراب وڅښي په شلاقو یې ووهی، که یې بیا وڅښل بیا یې په شلاقو ووهی. که یې بیا هم وڅښل بیا یې هم په شلاقو ووهی او که یې بیا هم وڅښل نو غاړه یې ووهی( مړ یې کړی).
د همدغه کتاب په ۵۶۶۳ حدیث کي راغلي دي چي ابی بُرده بن ابی موسی د خپل پلار له قوله وایی چي د شرابو د څښلو او خدای ته د شریک نیولو او بت پرستی ترمنځ هیڅ توپیر نسته.
د صحیح نسایي ورپسي حدیث عُروه بن رویم د حضرت رسول ص له قوله وایي چي هر څوک چي شراب وڅښی څلوېښت ورځي یې لمونځ نه قبلیږی.
اوس نو په داسي حال کي چي علی بن ابی طالب وایي د شرابو د څښلو د سزا لپاره حد ټاکل سوی نه دی. ابوبکررض خلک د شرابو څښلو په ګناه څلوېښت دُرې وهل. عمربن خطاب ته دا صلاحیت چا ورکړی وو چي د شرابو د سزا حد یې اتیا دُرو ته ورساوه؟ په داسي حال کي چي حق متعال په قرآن شریف کي څو ځله د خپلو حُدودو د رعایت کېدلو پر موضوع باندي ټینګار کړی دی؛ او هغه کسان یې ظالمان بللي دي چي د حق متعال او د هغه د رسول ص له حدودو څخه تېری کوي او حتی هغوی ته یې د دایمي دوږخ سزا، چي یوازي مشرک او قاتل ته ورکوله کیږي، ټاکلي ده. عمر بن خطاب له دې امر څخه مستثنی کېدلای نه سي. هغه یو عادي بنده وو. هغه پیغمبر نه وو چي د حدودو د ټاکلو حق او صلاحیت یې درلودلی وای.
په زړه پوري خبره خو لا داده چي عمربن خطاب ادعا کوي چي د شرابو د تحریم په باره کي آیتونه د ده په غوښتنه نازل سوي دي.
د صحیح النسایی ۵۵۴۰ حدیث وایی کله چي د شرابو د تحریم آیة نازل سو نو عمر وویل« اې الله موږ ته د شرابو په باره کي یو څرګند امر وکړه؛ او د البقرة سورة نازل سو. عمر را وبلل سو او هغه آیة ورته ولوستل سو. بیا نو عمر وویل چي اې الله موږ ته د شرابو په باره کي څرګند حکم وکړه. په دغه وخت کي د النساء دا سورة نازل سو چي اې هغو کسانو چي ایمان مو راوړی دی کله چي نشه یاست لمانځه ته مه راځی. عمر را وبلل سو او دا آیة ورته ولوستل سو. عمر بیا هم وویل چي اې الله موږ ته د شرابو په باره کي یو څرګند حکم وکړه. په دغه وخت کي د سورة المایده سورة نازل سو او عمر را وبلل سو او دا آیة ورته ولوستل سو. کله چي دی دې کلمي ته ورسېدی چي نو ته به له شرابو څخه اجتناب ونه کړې؟ عمر وویل موږ ورڅخه پرهېز سولو! موږ ورڅخه پرهېز سولو!»
سړی چي دا حدیث لولي نو حیران سي. حق متعال خپل پیغمبر درلود او د هغه په وسیله یې خپلو بنده ګانو ته هدایت کاوه. عمر هم یو له هغو بنده ګانو څخه وو چي سمي لاري ته را وبلل سو. حق متعال به ولي د حضرت عمر په غوښتنه درې پرله پسي آیتونه نازلول. هغه ته دا صلاحیت چا ورکړ چي د شرابو په باره کي د آیتونو د نازلېدلو غوښتنه وکړي؟
په زړه پوري خبره خو لا داده چي په قرآن شریف کي د شرابو د تحریم لپاره همدغه د المایده ۵ سورة ۹۰ آیة نازل سوی دی. له دې آیة څخه وروسته د شرابو او قمار د تحریم په باره کي بل اية نازل سوی نه دی. سړی حیران سي چي د تحریم د آیة د نازلېدلو څخه وروسته عمرفاروق د کوم آیة او حکم غوښتنه کوله او د ده د غوښتني په اساس وروسته کوم آیة نازل سوی دی.؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

زه یقین لرم او هر څوک په دې حقیقت پوهیږي چې امام نسایی، د یوه لوی محدث په حیث، په دې خبره پوهېدی چې د المایده پورتنی سورة، د شرابو او قمار د تحریم په برخه کې، وروستنی حکم دی. هغه ته په کار وه چې دا حدیث یې له سره راوړی نه وای.

حضرت عمر فاروق د صحیح بخاري د احادیثو په حواله هم وایي چې درې ځله یې له حضرت رسول ص څخه غوښتني کړي او په هغه باره کې، د ده له غوښتني سره سمې، وحی راغلي دي. دی وایي« یو ځل مې پیغمبرص ته وویل چې کشکي مو د کعبې په مقام ابراهیم کې لمونځ کولای. په دې ارتباط د حق متعال له خوا وحی راغلې او حضرت پیغمبرص ته وویل سوه چې د کعبې د طواف په ترڅ کې دوه رکعته لمونځ په مقام ابراهیم کې کوه. بل ځل مې حضرت رسول ص ته وویل چې کشکي دې خپلو مېرمنو ته د مخونو د پټولو امر کړی وای؛ او لږ وروسته د ښځو د حجاب په باره کې آیة نازل سو. او کله چې یو وخت د حضرت پیغمبرص مېرمنو د آنحضرت ص په مقابل کې لاسونه سره یو کړل نو ما هغوی ته وویل چې که حضرت پیغمبرص تاسې طلاقې کړي، د هغه رب به ترتاسي ښې مېرمني ورکړي. نو په دغه ارتباط آیة نازل سو او هغه څه پکښی ویل سوي وه چې ما ویلي وه»
صحیح بخاري حدیث ۴۰۲

زه یقین لرم چې دا دواړه حدیثونه جعلي دي. ځکه چې عمرفاروق، د یوه ټینګ مسلمان په حیث، په دې پوهېدی چې وحی یوازې د رب الجلیل او پیغمبرص ترمنځ د دایمي ارتباط نتیجه ده او بل څوک دا صلاحیت او اهلیت نه لري چې د وحی ادعا دې وکړي او یا ووایي چې دغه یا هغه وحی یا آیة د ده له غوښتني یا اټکل په اساس نازل سوی دی. امام بخاري او امام نسایي ته لازمه نه وه چې دا احادیث یې راوړي وای.

تراویح:

تراویح شل رکعته لمونځ دی چې د روژې په میاشت کې د ماخستن له لمانځه څخه وروسته په جماعت ادا کېږي. د صحیح بخاري ۲۰۱۰ حدیث د عبدالرحمن بن عبدالقاري له قوله وایي« زه د روژې په یوه شپه د عمر بن خطاب سره جومات ته ولاړم. هلته مو ولیدل چې یو سړی به جلا ولاړ وو او لمونځ به یې کاوه او څو تنو به له یوې ډلې سره لمونځ کاوه. عمر وویل زه باید دا خلک داسې را غونډ کړم چې په یوه قاري پسې لمونځ وکړي. اُبی بن کعب ته یې وویل چې ته مخکې سه او امامت وکړه. کله چې زه یوه بله شپه له عمر سره جومات ته ولاړم هلته مې ولیدل چې ټولو خلکو په یوه قاري پسې لمونځ کاوه. عمر ږغ کړه چې « وه! څه ښه بدعت مې وکړ. داچې خلک په دغه وخت کې په کورکې ناست وي او لمونځ نه کوي دا بهتره ده چې دلته مسجد ته راسي او په جمع لمونځ وکړي.»

د دې بیان څخه په څرګنده معلومیږي چې تراویح د عمر تر خلافت پورې په جماعت نه کېدلې او حتی عمر یې پخپله یو ښه بدعت بولي. خو زموږ خلک یې نه یوازې سنت بولي بلکه تر سنت هم په لوړه درجه ورته قایل دي. له بلې خوا دا نه سوه معلومه او د احادیثو په هیڅ کتاتب کې نه دي راغلي چې تراویح څو رکعته دي؛ خو سنیان یا اهل سنت والجماعة یې شل رکعته بولي او هیڅ ډول مدرک هم نه لري. هیڅ چا دا پوښتنه نه ده کړې چې عمر د دغه بدعت څه صلاحیت درلود؟ او دا شل رکعته چا ټاکلي دي؟

سنن النسایی په ۱۵۹۹ حدیث کې وایي چې کله حضرت پیغمبرص ولیدل چې خلک د شپې په هغه پسې په جومات کې لمونځ کوي نو هغه خلکو ته وویل چې پرته له فرضي لمونځونو نور ټول نفلي لمونځونه په کورونو کې وکړی، ځکه چې تر ټولو ښه نفلي لمونځ هغه دی چې په کور کې وسي.

سنن النسایی په ۱۶۰۵ حدیث کې د عایشې رض له قوله وایي« حضرت پیغمبرص یوه شپه په جومات کې لمونځ وکړ او خلک ورپسې ودرېدل. بله شپه د خلکو شمېر زیات سو. دریمه شپه د خلکو شمېر تر هغه هم زیات سو. په څلورمه شپه دومره خلک په مسجد کې را غونډ سوي ول چې بیخي ځای نه وو. حضرت پیغمبرص په هغه شپه په کور کې پاته سو. په سبا سهار یې خلکو ته وویل زه پوهېدم او خبر سوم چې تاسې په جومات کې راغونډ سوي یاست او په جماعت د لمنځه انتظار کوی مګر زه قصداً راونه وتلم؛ ځکه چې زه بېرېدلم که بله شپه را ووزم او تاسې ته په جماعت لمونځ درکړم تاسې به دا لمونځ پر ځانونو باندې واجب کړی. او دا د روژې میاشت وه»

سنن ابوداوود په ۱۳۷۳ حدیث کې همدغه بیان د عایشې له قوله کوي او هغه هم وایی چې حضرت پیغمبرص د تراویح لمانځه ته، درې شپې، را ووت او څلورمه شپه قصداً جومات ته نه ولاړ او سهار یې خلکو ته وویل چې ما نه غوښتل تاسې یو بل لمونځ پر ځانونو باندې واجب کړی.

هغه څه چې حضرت رسول ص وېره ورڅخه درلوده هغسې پېښه سوه. ۱۴۰۰ کاله کیږي چې سنیان د روژې د میاشتې تراویح د فرض لمونځ په څېر تعقیبوي او هیڅ څوک پوښتنه نه کوي چې تراویح په کوم کتاب کې راغلې دي او ولې شل رکعته دي او آیا حضرت عمر دا صلاحیت درلود چې خلک په جومات کې په امام پسې ودروي؟ په داسې حال کې چې حضرت رسول ص امر کړی وو چې نفلي لمونځونه په کورونو کې وکړی او هغه بهتر کاردی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پل صراط:

په قرآن شریف کي د پل صراط څرګنده یادونه نه ده سوې؛ خو په احادیثو کي د هغه په باره کي تفصیل ورکړه سوی دی. صحیح مسلم په ۳۵۳ حدیث کي د ابوسعیدالخدري له قوله وايي چي پل صراط تر وېښته نری او تر توري تېره دی. البته په هغه حدیث کي چي د لیث له قوله نقل سوی دی، پل صراط ته اشاره نسته.

د صحیح مسلم په ۳۶۷ حدیث کي راغلي دي« ... حق متعال ج به موسکی وي او د ټولو خلکو په مخ کي به روان وي. که منافقین دي او که مومنان دي له هر یوه سره به یو څراغ ورسره وي. د دوږخ پر سر باندي به یو پل وي او پر هغه پله باندي به مېخونه او چنګکونه وي او هغه کسان به چي د الله ج اراده وي پکښی بندیږي. د منافقینو څراغونه به مړه سي او مومنان به نجات پیدا کړي. لومړنی ډله چي تر پل صراط تیریږي هغوی به ۷۰ زره تنه وي. د هغوی مخونه به د سپوږمۍ په څېر ځلیږي او له هغوی سره به حساب نه کیږي. وروسته به بله ډله ورپسې وي چي مخونه به يې د اسمان د ستورو په څېر ځلیږي.... »

موږ ټول مسلمانان، له مرګه وروسته، پر بیرته ژوندي کېدلو باندي عقیده لرو او ټول دا منو چي له هربنده سره به، په آخرت کي، د دنیا د نېکیو او بدیو حساب کیږي. د ټولو اعمال به په ترازو کي تلل کیږي او د اعمالو په اندازه به سلوک ورسره کیږي.

د القارعة ۱۱۰ سورة له ۶ څخه تر ۱۱ آیتونو کي راغلي دي:

فامّا من ثقُلت موازینهُ فهُوَ فی عیشةٍ راضیةٍ

و امّا من خَفّت موازینه فأُمَّهُ هاویه

و ما ادراک ماهیة

نارٌ حامیة.

ترجمه: د هغه چا چي د اعمالو پله درنه وي هغوی به خپل د خوښۍ ژوند پیل کوي او د هغو کسانو چي د اعمالو پله يې سپکه وي هغوی به هغه اورته لویږي چي سخت تود دی.»

سوال په دې کی دی چي که پل صراط د اعمالو له وزن کېدلو څخه مخکي وي او د دوږخ لایقان له پله څخه خطا کیږي او دوږخ ته لویږي نو بیا خو د اعمالو د وزن کېدلو ضرورت نه پاتیږي؛ خکه چي دوږخیان به دوږخ ته تللي وي. او که لومړی له بنده ګانو سره د ښو او بدو عملونو حساب کیږي؛ نو تر حساب وروسته خو د پل صراط ضرورت نسته؛ ځکه چي د دوږخ لایقان به د خپل حساب او کتاب له مخي دوږخ ته روان وي او پر پله باندي به ولي دوهم ځل آزمېیل کیږي؟

لکه مخکي چي مو اشاره ورته کړې ده، احادیث د حضرت رسول اکرم ص له وفات څخه تقریباً دوه نیم سوه ۲۵۰ کاله وروسته جمع سوي او لیکل سوي دي. دا وخت مسلمانانو عراق، ایران، ماوراءالنهر، د افریقا شمال او د هند ډیري برخي نیولي او له پردیو مذهبي عقایدو سره آشنا سوي ول. زه یقین لرم چي د پل صراط مفکوره د زردشت له مذهبی عقایدو څخه اسلامي عقایدو ته ورغلې ده.

د زردشت په مذهب کي پل صراط ته« پل چینوت» ویل کیږي. په زردشتي عقایدو کي راغلي دي چي پل چینوت له تېرو تورو څخه جوړ سوی دی او د البرز د غره له سره تر عرشه رسېدلی دی. د انسان له مړیني څخه وروسته په څلورمه ورځ سهار وختي د هغه روح د قضاوت میدان ته روانیږي. که يې چیري بد عملونه کړي ول نو پر تېرو تورو باندي لګیږي او تر پله لاندي دوږخ ته لویږي او که يې ښه عملونه کړي وه نو هغه تېري توري چي پل چینوت ورڅخه جوړ سوی دی د پله په ډول ورته پرېوزي او انسان دایمي جنت ته روانیږي.( تفصیل يې د پل چینوت تر عنوان لاندي په ویکي پیدیا کي کتلای سی)

پل چینوت ته د زردشت په سرودونو کي ډیري زیاتي اشارې سوي دي. د اوستا د کتاب په ۲۹۳ مخ کي راغلي دي:« اې پرهېزګاره او د پاک دین څښتنه! که غواړې چي روح دي د چینوت تر پله په آسانی سره تېر سي او د تل لپاره په جنت کي و اوسیږې نو سرودونه ولوله او زه آرزو لر م چي اهورامزدا به دي جنت ته واستوي.»

په ۴۸۰ مخ کي لولو «اې اورمزده اې خدایه! ګوندي د چینوت تر پله په خوښۍ او له سپک بار سره تېر سو او هغه ځای ته چي پاکان او نېکان پکښي اوسیږي ورسېږو او په خوشالي ځای پکښی ونیسو.»

په ۵۴۸ مخ کي وايي: «خدایه زموږ سره مرسته وکړې چي ارواح مو د دوږخ په سختو دېوالونو کي بند نه سي او په آسانی او خوښۍ تر پل چینوت تېر سو او هلته له پاکانو او نېکانو سره په دایمي جنت کي ځای ونیسو.»

هغه احادیث چي له عقل سره نه جوړیږی:

په احادیثو کي ځیني داسي خبري راغلي دي چي له عقل او محاسبې سره په هیڅ صورت نه لګیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د صحیح مسلم ۶۷۸۶ حدیث د سهل بن سعد له قوله نقل سوی دی چي وایی « حضرت پیغمبرص وویل چي په جنت کي یوه ونه ده چي که یي تر سیوري لاندي څوک پر آس باندي سپور سل کاله سفر وکړي د هغي وني تر سیوري نه سي وتلای.
همدغه حدیث د ابوسعیدالخُدري له قوله وایي چي حضرت پیغمبر وویل چي که یو سپور پر ډېر چټک آس باندي تر دغي وني لاندي سل کاله حرکت وکړي تر سیوري یي نه سي وتلای.»
د مځکي محیط ۲۵۰۰۰ مایله دی. آس په ساعت کي تر ۵۵ مایله پوري ځغستلای سي.
که یو آس په ساعت کي ۳۵ مایله حرکت وکړي؛ او په ورځ کي یوازي اته ساعته سفر وکړي؛ په کال کي به ۱۰۲۲۰۰ مایله تللی وي او په سل کاله کي به یي ۱۰ میلیونه ۲۲۰ زره میله سفر کړی وي. په دې صورت کي به د وني سیوری د مځکي د محیط ۴۰۸ چنده سي یعني دا ونه به په حقیقت کي د مځکي لږترلږه ۴۰۰ چنده وي.
لږترلږه ۴۰ مځکي باید سرپر سر کښېښودلي سي چي د دې وني تنه جوړه کړي. که په دغه لویوالي او عظمت یوه ونه موجوده وي بیا به نو انسان، د دې مځکي په تناسب، دومره وړوکی وي چي د یوه اتوم حیثیت به هم نه لري. نو بیا به، دغه د اتوم تر ذرې وړوکی انسان د وني له سیوري او د هغي له عظمت څخه څه مزه واخلي.  حتی یوه به نه سي چي ونه چیري ده او سیوری یي چیري دی.
په دې کي هیڅ شک نسته چي د لایتناهي کایناتو خالق او مالک کولای سي چي تر هغي وني سل چنده او حتی یو میلیون چنده لویه ونه هم پیدا کړي خو هغه به د انسان د لیدلو او د هغي له سیوري څخه د خوند اخیستلو لپاره نه وي.
د صحیح مسلم ۶۸۱۳ حدیث د ابوهُریره له قوله وایي چي موږ یوه ورځ له حضرت پیغمبرص سره پر لاري روان وو؛ یو مهیب او وېروونکی ږغ مو واورېدی. حضرت رسول اکرم ص زموږ څخه پوښتنه وکړه چي تاسي پوهېږی دا د څشي آوازوو؟ موږ ورته وویل چي پیغمبرص تر ټولو ښه پوهېږي. پیغمبرص راته وویل چي حق متعال ۷۰ کاله مخکي یوه لویه ډبره دوږخ ته ورخوشي کړې وه او نن هغه ډبره د دوږخ پای ته ورسېده او تاسي یي آواز واورېدی.
ډبره، د آزاد سقوط په صورت کي، په ساعت کي ۱۱۸ مایله مخ پر کښته حرکت کوي. دا سرعت په هر ثانیه کي دوه چنده کېږي. موږ یي د سقوط د سرعت له زیاتېدلو سره کار نه لرو او داسي به یي فرض کړو چي سرعت یي نه زیاتیږي. که دا ډبره، په ثابت ډول، په هر ساعت کي ۱۱۸ مایله سقوط وکړي. په و رځ کي به ۲۸۳۲ مایله سقوط کوي او په یوه کال کي به یي د سقوط اندازه یو میلیون ۳۳ زره ۶۸۰ مایله سي او په ۷۰ کاله کي به ۷۲ میلیونه ۳۵۷ زره مایله لاندي لوېدلي وي. او که په هره ثانیه کي د ډبري د سقوط د سرعت د زیاتېدلو اندازه ورسره وشمېرو نو خبره به میلیاردونو مایلو ته ورسیږي.
له استوا څخه د مځکي تر مرکز پوري څه کم ۴۰۰۰ مایله فاصله ده. یعني دا ډبره باید، په ثابت سرعت، د مځکي له سطح څخه تر مرکز پوري څه باندي ۱۸۰۰۰ زره چنده لاندي لوېدلي وي. زه د رقم او عدد په باره کي څه نه وایم. حضرت رسول اکرم ص پیغمبر وو. هغه د معجزې په زور له هره ځایه ږغ اورېدلای سوای. خو ابوهریره دا کرامت له کومه کړ چي له ۷۲ میلیونه مایله فاصلي څخه یي د ډبري د لوېدلو ږغ واورېدی؟ دا چي لا دوږخ چیري دی؛ هغه خو بل سوال دی. ځکه چي د مځکي په کره کي خو دونه عمق نسته چي ډبره دي اویاکاله خو لا څه کوې چي درې ورځي دي لاندي ولوېږي او پای ته دي ونه رسیږي. په دې صورت کي نو سړی په څرګنده ویلای سي چي دا حدیث باید جعلي وي او ابوهریره، د یوه بېسواده شپانه په حیث، طبعاً په دې نه پوهېدی چي د یوې ډبري ۷۰ کاله سقوط څه مفهوم لري.
فرقې په اسلام کي:
سنن ابوداوود ۴۵۹۷ حدیث د احمد بن حنبل او محمدبن یحیی له قوله وایي چي هغوی د ابوالمغیره او هغه د ازهر بن عبدالله الحرازی او هغه د ابی عامر الهوزنی او هغه د معاویه بن ابی صفیان له قوله نقل کوي چي رسول الله ص زموږ په منځ کي ولاړ وو او ویل یي چي خبردار! زموږ څخه مخکي اهل کتاب پر ۷۲ فرقو ووېشل سول او ددغه دین پیروان به پر ۷۳ فرقو ووېشل سي. له هغوی څخه به  یوازي یوه فرقه جنت ته ځي او باقي پاته به دوږخ ته لویږي. هغه فرقه چي جنت ته ځي هغه به اکثریت وي.
که د محمدبن عبدالکریم بن احمد شهرستاني د « الملل والنحل» کتاب ته، چي تقریباً ۹۰۰ کاله مخکي په ۵۴۸ هجری قمری یا ۱۱۵۲ میلادي کي لیکل سوی دی، مراجعه وکړو خو معلومیږي چي په اسلام کي، د پورتني کتاب په استناد، ۹۰۰ کاله مخکي، تر ۱۰۰ فرقي زیاتي موجودی وې. او په دې تیرو ۹۰۰ کلونو کي خو لږتر ترلږه ۵۰ نوري فرقي منځته راغلي دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اوس به نو سرى دا څرنګه معلوموي چي کومه فرقه پرحق ده. ځکه چي هره فرقه خپل ځانته دلایل لري او هره فرقه په آیات او احادیث باندي استناد کوي.
له بلي خوا، که هغه احادیث ومنو چي موږ مخکي اشاره ورته کړې او شرح کړي دي چي وایی هغه څوک دوږخ ته نه ځي چي الله ج په وحدانیت او محمدص د الله ج په رسالت ومني. اسلام چي پر هر څو فرقو وېشل سوى دى؛ تقریباً د ټولو پیروان الله ج واحد ذات بولي او د حضرت رسول پر رسالت باندي قایل دي. د دوږخ او جنت په مسله کي د دې دوو نظرونو او دوه ډوله احادیثو ترمنځ د مځکي او اسمان اختلاف او تضاد موجود دى. ځکه یو وایی چي ۷۲ فرقې دوږخ ته ځي او بل وایي چي صرف کلمه طیبه یې وویل هغه به جنت ته روان وي.
د دې حدیث د جعلي ثابتولو لپاره تر ټولو غوره مثال د عثمان بن عفان رض تر وژل کېدلو وروسته د علي رض، معاویه رض او ام المومنین عایشي رض تر منځ د صفین او جمل جنګونه دي چي د طلحه بن عبیدالله او زبیر بن عوام په شمول، چي د جنت زېرى ورباندي سوى وو او جنت ته تلل یې تثبیت دي، زیات وکم پنځوس زره مسلمانان پکښي ووژل سول. په دې پورتنیو کسانو کي به سرى کوم یو د دوږخ لایق وبولي ځکه چي د ټولو له نومونو سره، تر اوسه پوري، رض لیکل کیږي. په دې جنګونو کي، چي د اسلام په تاریخ کي په لویه فتنه مشهور دي، د پورتنیو کسانو په شمول، په سل هاوو صحابه، څوک د علي، څوک د معاویه او څوک د عایشي په طرفداري وجنګېدل او خوارجو، چي ځانونو ته یې تر ټولو ټینګ مسلمانان ویل خلورمه، او د دریو واړو پرضد، فرقه جوړه کړې وه. عبدالله بن عمر، چي هغه هم یو معتبر صحابي وو، د مکي معظمې په ښار کي کښېنستی او بېطرفي یې غوره کړه. هغه که څه هم چي تورى ته لاس نه کړ مګر ځانته یې یوه بېله فرقه جوړه کړې وه چي په جنګ کي د ښکېلو ډلو څخه یې د یوه ملاتړ هم نه کاوه. د دې پنځو واړو فرقو په رهبري او صفوفو کي صحابه کرام موجود ول. دا قضاوت به څوک کوي چي په دوى کي کوم یو مستقیماً جنت ته ځي او د نورو په برخه به د دوږخ اور وي. ځکه چي جنت ته یوازي یوه فرقه تللای سي. د مسلمانانو ترمنځ، د دې خونړیو جنګونو، چي د تقریباً ۵۰۰۰۰ مسلمانانو او لویو صحابه وو د قتلېدلو سبب سول، مسوولیت باید یوه چاته راجع سي. البته لوى محدثین، چي ښایی په هر څه به پوهېدل، په دې موضوع کي چوپ پاته دي.
ساري ناروغي:
ابوهریره د ساري ناروغی په باره کي متضاد احادیث نقلوي او لوستونکي ته سوالونه پیدا کوي. د صحیح مسلم ۵۵۰۷ حدیث د ابوهریره له قوله وایي چي حضرت رسول ص وویل« هیڅ ډول ساري ناروغي وجود نه لري. یوه صحرایی عرب، چي په مجلس کي ناست وو، له حضرت رسول څخه پوښتنه وکړه چي زموږ یو اوښ یو وخت لکه هوسۍ داسي ځغلي؛ مګر کله چي د یوه پمن اوښ څنګ ته ودریږي هغه جوړ اوښ هم پمن سي. حضرت رسول ص په جواب کي ورته وویل چي هغه لومړي اوښ له چا څخه ناروغی اخیستي وه» ابوهریره وروسته دوه نور احادیث هم په همدغو عباراتو نقلوي.
د همدغه صحیح مسلم ۵۵۱۰ حدیث د همدغه ابوهریره له قوله نقل کوي چي حضرت رسول ص وویل چي هیڅ ډول ساري ناروغي نسته مګر حضرت رسول ص دا هم ویلي دي چي هیڅ ناروغ سرى باید جوړ سړي ته ورنه سي. ابوسلامه وویل چي ابوهریره دغه دوه متضاد حدیثونه د حضرت رسول ص له قوله نقلول مګر په پای کي به یې دا خبره نه کوله چي هیڅ ډول ساري ناروغي نسته؛ خو پر دې خبري به ټینګ ولاړ وو چي ناروغ سرى باید جوړ سړي ته ورنه سي. حارث بن ابوذوباب، چي د ابوهریره سکه د کاکا زوى وو، ابوهریره ته وویل چي ما ستا څخه اورېدلي دي چي د حضرت رسول ص له قوله دي ویل چي هیڅ ډول ساري ناروغي نسته او اوس په هغه باره کي خاموش یې. ابوهریره پر دې خبره منکر سو چي ویلي یې دي ساري ناروغي نسته؛ مګر دا به یې ویل چي ناروغ اوښ باید له روغ اوښ سره یو ځای نه سي. ابوسلامه ویل زما دې په خپل ژوند قسم وي چي ابوهریره هر وخت، د حضرت رسول ص له قوله، ویل چي ساري ناروغی نسته.
د دې پورتنی موضوع په ارتباط، له ۵۵۰۷ څخه تر ۵۵۱۶ پوري لس متضاد احادیث نقل سوي دي. امام مسلم او نورو محدثینو ته په کاروه چي په دې احادیثو کي یې سم انتخاب کړى واى او د لوستونکو د اذهانو د مغشوشېدلو د مخنیوي لپاره یې یا هیڅ حدیث اخیستی نه واى او یایې د دې احادیثو ترمنځ خپل قاطع نظر څرګند کړى واى.

پاى

د لیکوال آرشیف



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ